هفته نامه

دجهاد هنداره

مــراة الجــهاد

لومړی کال ، ٤٤ گنه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دسرطان ۲٦ مه

PROPERTY OF ACKU

دروﻻیت پکتیا ۱۲ نفر ازافراد رژیم هلاك شدند

خبرنگار ما اطلاع حاصل نموده که یك منبع جهادی درپشاور به میدیا گذارش داد مجاهدین دلیر بروز ۱٤ سرطان ازطرف محاذ جنوبی غربی باﻻی پوسته های کمربند امنیتی شهر گردیز عملیات تعرضی نمودند که درنتیجه ۱۲ نفر افراد نظامی رژیم کمونست هلاك و ٤ تن دیگرشان اسیر مجاهدین گردید.

گزارش می افزاید درین عملیات دوعراده تانك زرهی یك عراده موتر مهمات نظامی ویك دستگاه پرتاب راکت رژیم مزدور کابل نیز تخریب گردیده است .

منبع درباره تلفات مجاهدین اطلاع نداده است .

دراثر عملیات مجاهدین درسالنگ جنوبي وجبل السراج ۱۱ عراده تانك و۱۲پوسته رژیم ازبین رفت

درصفحه (۷)

دکابل رژیم قواود جلال اباد په جنوب کې هوايي بریدونه کړي دي

ننگرهار ، میدیا :

دننگرهار وﻻیت نه راغلی رپوټونه وایی چی دکابل رژیم قواو دجلال اباد ښار جنوب خوا دروداتو ولسوالی بټی کوټ علاقه داری اودشینوارو لوی ولسوالی په سیمو تیره هفته دجیټ الوتکو لری ویشتونکو توپونو اواوراکان توغوندیو په واسطه ناڅاپی بریدونه پیل کړی چی په نتیجه کی په بټی کوټ علاقه داری کی یوه ښځه شهیده اوقوماندان عصمت دیوشمیر مجاهدینو سره سخت ټپی شوی دی .

رپوټ زیاتوی چی دکابل رژیم قواو نوموړی حملی دمجاهدینو داحتمالی حملی دویری څخه پیل کړی دی خو مجاهدینو تراوسه پوری په جلال اباد باندی دحملی په برخه کی څه ندی ویلی اوپوازی خپلی مورچلی یی ټینگی ساتلی دی .

یوتن عینی شاهد هم میدیاته وویل چی دجیټ الوتکو ددغه بمباریو په لړ کی دسرطان په ۱۸ دشینوارو دلوی ولسوالی دغنی خیلو دلیسی ودانی ړنگه شوی اودری اوراکان توغندی اویو شمیر نور بمونه دمجاهدینو دمرکزونو اوکلو په شاوخواکی لگیدلی چی ځانی زیان پکی ندی رسیدلی .

دریوټ مطابق دغه راز دکابل رژیم قواو دطورخم اوخوگیانو ولسوالی ځانگړی لاره درودتوولسوالی په بیلا بیلو برخو دتوپونو دبریدونو لاندی نیولی خودزیان په باره کی اطلاع نده ورکړل شوی .

دسمنگانو په وﻻیت کې درژیم ۲۰ تنه ملیشه وژل شوی

سمنگان ، میدیا :

دسمنگان وﻻیت نه دمجاهدینو یو خبرځای خبرورکړی چی مجاهدینو دسرطان په ۱۱ مه نیټه دخلم ولسوالی دتاشقرغان دتنگی پرپوستو اودایبکودښار دسیمی په امنیتی پوستو یولړ عملیات ترسره کړل چی دهغه په نتیجه کی ۲۰ تنه درژیم ملیشه اوعسکر مړه ۳۰ تنه ټپیان او ۱۰ تنه نور یی دخپلو وسلوسره مجاهدینو ته تسلیم شوی دی همدارنگه دهغوی ٥ عرادی ټانکونه له منځه تللی دی

خبرزیاتوی مجاهدینو په نظامی مواددبار دوه عرادی لاری ۲۰ میله کلاشینکوفونه اوډول ډول وسلو گولی ولجه کړیدی.

الحاج مولوي نظام الدین حقاني دجهاد هنداري سره په مرکه کې :

مونږ په افغانستان کې دروسي نمایندگان اوبې دینه اوبې مذهبه خلك نشو منلاى ، که اسلامي هیوادونه اوحتی ټوله نړی یې هم ترڅنگ ودریږي

په دوهم مخ کی

دبادغیس په وﻻیت کې ددښمن یو تعرضی حمله ناکامه شوه

بادغیس ، میدیا :

میدیا دبادغیس وﻻیت څخه درادیویی پیغام په حواله رپوټ ورکړی چی دبادغیس وﻻیت مجاهدینو دکلك مقاومت په اثر دکابل رژیم قواو یوه تعرضی حمله چی دقلعه نو په مرکز دخم عباس او ددهنه مقرسیمو دمجاهدینو په مرکزونو باندی یی کړی وه دسرطان په ۱٥ نیټه په شاوتمبوله ۱۷ تنه ملیشه یی وژلی یو شمیر نور ټپیان او پاتی قواوی ښارته په تیښته مجبوری شوی دی .

ددغه خبرمطابق دقلعه نو مرکز د پخوا په شان دمجاهدینو دکلکی محاصری لاندی دی اودتوپونو دزی پری دوام لری .

خبر ځای زیاتوی مجاهدینو پدغه پراخه جگړه کی دکابل رژیم یو توپداره هلیکوپتر دښارپه شمالی ٦ کیلومتری کی رانسکورکړی اوعمله یی پکی وژل شویده .

دخبر مطابق مجاهدینو په دغه جگړه کی دکمونستی رژیم (۱۲) تنه ملیشه د (۱۲) میلوکلاشینکوفونو سره بندیان نیولی دی .

دچین کمپنی په دکویټ دتیلو د څاگانو داور وژلو کی برخه اخلی

کویټ ، دسرطان ۲٤ مه :

دچین یوشمیر کمپنی به دکویټ دتیلو دڅاه گانو داور وژلو په کار کی برخه اخلی .

دبی ، بی ، سی رادیو دخبرمطابق پدی هکله دواړو هیوادونو دحکومتونو ترمنځ یوتړون هغه وخت لاسلیك شو ، کله چی دچین صدراعظم لبی پنگ دکویټ اودمنځنی ختیز له ځینو هیوادونوڅخه په لیدنه کتنه بوخت و .

کله چی دمجاهدینو مشران موجود وی نوداستازی ټاکلوته اړتیانه شته

داسلامی حزب مشرمولوی محمد یونس خالص په یوه مطبوعاتی مرکه کی څرگنده کړه چی دافغانستان خلك ددی صلاحیت لری څوخپل سرنوشت په خپله وټاکی .

مولوی خالص په څرگند ډول وویل چی شخصی اوگروهی گټو ته توجه کول داسلامی حکومت دجوړولو لپاره یواځینی سترخنډ دی .

داسلامی حزب مشر ۲۸ کسیز کمیسیون ته دگډون لپاره دده داستازی په هکله وویل کله چی دمجاهدینو مشران موجودوی نوددی ډول کمیسیونونو جوړیدلو ته هیڅ ضرورت نه شته په همدی وجه می داستازی له لیږلو څخه ډډه وکړه .

همداړمولوی محمد یونس خالص څرگنده کړه چی ملگری ملتونه دپنځه فقره ایزی طرحی ترمخه باید هرډول اړیکی دنجیب له مزدور رژیم څخه وشکوی اوهم یی هرډول خبری دسویس له خارجه وزیر سره رد کړی اووېی ویل چی په عبوری حکومت کی دظاهرشاه گډون دمجاهدینو په مقابل کی یوه توطئه ده اودامریکی متحده ایالتونه یی پدی متهم کړل چی مجاهدینو ته یی دپوځی مرستو په لړکی مناسبه وسله ورنکړه

دامریکی جمهور رئیس پرعراق باندی دیوی بلی حملی امر ورکړ

دنړیوالو خبری اژانسونو له قوله دامریکی یوه لوړ رتبه مامور ویلی چی دامریکی جمهور رئیس جورج بوش دعراق په هغو شلو نظامی مرکزونو باندی دحملی امر ورکړی چی دعراق له خوا پټ ساتل شوی دی .

هغه ویلی دی که دعراق رژیم دهستوی مرکزونو دښودلو په هکله دنړیوالی ټولنی وړاندیز ونه منی نودامریکی له خوابه ترحملی لاندی ونیول شی ،

په واشنگټن کی خبری منابعو ویلی دی چی دغه ټکی دبوش اودبریتانیی دصدراعظم جان میجر په تلیفونی خبرو کی څرگند شوی اوجان میجر لدی حملی څخه ملاتړ کړیدی .

همدارنگه دمتحدینو ځواکونو پنځه زره تنه عسکردعراق دکردانو ددفاع په خاطر دترکیی اوعراق په سرحدونو کی ځای پرځای شوی دی دلندن رادیو په خپل رپوټ کی ویلی دی چی امریکی دعراق دهستوی مرکزونو په هکله یوه روښانه نقشه ترلاسه کړیده .

په بغلان کی درژیم دوه ټانکونه له منځه تللی

بغلان ، میدیا :

مجاهدینو دسرطان په ۱٦ مه نیټه دبغلان وﻻیت په مرکز د گرداب په سیمه کی دملحد رژیم پرقواو برید وکړ چی دهغی په اثر درژیم دوه عرادی زغروال ټانکونه دسپرلیو سره له منځه وړل شوی اویو شمیر عسکر اوملیشه مړه یا ټپیان شویدی .

رپوټ زیاتوی چی دملحد رژیم الوتکی په نوموړو سیمو کی دمجاهدینو پر مرکزونو اوشاوخوا کلیوباندی سختی بمباری وکړی چی کلیوالو ته درانده مالی اوځانی تاوانونه رسیدلی دي.

بازار انفارك مربوط ولسوالی خلم بدست مجاهدین افتاد

سمنگان ، میدیا :

یك منبع جهادی به میدیا گذارش داد مجاهدین بروز ۱٤ سرطان باحمله پوسته های منطقه باغات گذره ، نواباد ، بازار انفارك ولسوالی خلم وﻻیت سمنگان راتصرف نموده ۱٦ عسکروملیشه رژیم بشمول قوماندان انها بنام شکور کور هلاك و ۸ نفر دیگر باسلاح دست داشته به اسارت مجاهدین درامدند .

سرمقاله

حساس شیبې امیدونه ، گوابونه اومسوولیتونه

زموږ مجاهد ملت چی کوم ستر هدف ته درسیدو په هیله په تش لاس خودخدای (ج) دمرستی اونصرت په باور اودکلك ایمان اوپخی عقیدی په کارنده وسله دیو ستر مادی ، الحادی اوطاغوتی ځواك مقابله پیل اودملیونونومؤمنو افغانانو دسپیڅلو وینو په برکت یی دخپل اسلامی انقلاب مجاهدی اوبرحقی مبارزی یوه ترتنه بله وساتله ، دیوناانوله مقاومت په بهیر کی یی پاخه اودرانه قدمونه واخیستل اوخپل سرمنزل ته درسیدو په تکل پرمخ لاړل په ملیونو وکړو یی دالله (ج) درضا اواعلای کلمة الله اودالحاد فساد له ناوړه منگولو څخه دخپل هیواد اوخلکو دژغورنی په لار کی له خپل گران هیواد نه هجرت کولو هرډول مالی اوځانی قربانی ورکولو اودبی شمیره ستونزو زغملوته غاړه کیښوده خودځین اووطن دښمن ته یی دتسلیمی سرټیټ نه کړ .

دروس له مزدورانو (خلقیانو ، پرچمیانو) سره دمؤمنو افغانانو دوسلوال جهاد دپیلامی اوادامی اوپیا دخپل

په ۸ مخ

دوردگو اومیدان په وﻻیت کي ۸٥ تنه ملیشه او٥ عرادي ټانکونه له منځه تللي

دوردگو له وﻻیت څخه میدیا ته رپوټ رسیدلی چی مجاهدینو دسرطان په ۲۰ نیټه درژیم دقواو څخه دری عرادی زغروال ټانکونه اویوه عراده په مهماتو بار موټر دکوتل سفید خاك او قطار سنگ په سیمو کی دځای په ځای کړی مینونو په ذریعه تخریب اوشل تنه عسکراوملیشه یی مړه کړی دی.

همداراز دیویل خبرله مخی مجاهدینو دسرطان په ۱۹ نیټه دوردگو په وﻻیت کی درژیم هغه قوا چی دسفید خاك په سیمه کی ځای په ځای شوی وه دخپلو درندو وسلو دبرید لاندی نیولی چی دهغی په نتیجه کی دوه عرادی ټانکونه تخریب او ۱٤ تنه ملیشه دمنځه تللی دی .

خبرځای په یو بل رپوټ کی زیاته کړی مجاهدینو دسرطان په ۱۸ نیټه په گډه

په اووم مخ کی

مسلمانان چي ددنیا په هرگوټ کي اوسي – په هره ژبه چي خبري کوي اوهررنگ لباس اوجامه چي اغوندي یوه ډله اودیوامت برخه ده . الحاج حقاني

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

نگرشی کوتاه بر :
گزارشی ازسازمان عفو بین المللی

احمد ضیا «رحیمزی»

درگرما گرم بحث ها وپیشنهاد های مختلف جهت یافتن یکراه حل سیاسی برای معضله افغانستان انهم از جوانب مختلف نیدخل وغیر نیدخل در این قضیه ، هفته گذشته «سازمان عفو بین المللی» راپوری از زیر پا شدن حقوق بشردرافغانستان را به نشر سپرد که طی ان ازیکسو باروش محافظه کارانه درچند مورد «غیرمهم » و «مبهم» ازرژیم کابل انتقاد بعمل امده است ، وهمچنان درمواردی هم مجاهدین را به تخطی ازحقوق بشر !! محکوم نموده اند .

درقسمتی ازگزارش سال ۱۹۹۱ میلادی سازمان عفو بین المللی که (صبح روز ٤ شنبه ۱۹ سرطان) درپروگرام دری صدای امریکا روی ان تبصره صورت گرفت ، سازمان مذکور درجائیکه ازشکنجه وازار زندانیان توسط اعمال رژیم مزدور درکابل ذکرمی نماید وانرامنافی حقوق بشری می داند درهمانجا ذکری هم از مجاهدین دارد وبااین الفاظ که «... مجاهدین نیز از متوصل شدن به خشونت واعمال شنیع !! مبرانیستند » انها راهم به تخطی ازیه اصطلاح حقوق بشر!! محکوم می نماید !

که اینك مانمی دانیم اعمال شنیع راکه این سازمان بین المللی مجاهدین مومن مارا به ان متهم می سازد چگونه بوده وکدامین «مجاهد» انرا انجام داده است !

نکته جالب تراین گزارش ، بحیث گزارش سال ۱۹۹۱ یکی از سازمان های بین المللی داعی حقوق بشر درسراسر جهان دراین است که ازجمله تمام جنایات ووحشی گری های مزدوران روسی در افغانستان تنها وتنها بر زندانی بودن وتحت شکنجه قرار گرفتن چند تن (انهم نه به اندازه که واقعیت است بلکه به شکل خیلی محدود ان) اشاره شده است وبس !

این امربجای خود حقیقت مسلم وانکار ناپذیراست که امروز زندان های کابل ومراکز ولایات تحت تسلط رژیم مملو از هزاران هزار هموطن مسلمان وبادیانت ماست که بخاطر پیروی از راه حق وحقیقت تحت شدید ترین ووحشی ترین شکنجه های غیر انسانی رژیم مزدور کابل قرار دارند ، وصد ها تن از انها بدون تشخیص وتعیین جرم و محاکمه قانونی جوقه جوقه بپایه های دارکشانیده می شوند ، ولی تعجب دراین است که سازمان عفو بین المللی چرادرطول وعرض گزارش سال خویش تنها به ذکرنام چند تن ازافراد مجهول الهویه ونامشخص (بنام زندانیان سیاسی رژیم کابل) اکتفا نموده پرده برجنایات ووحشی گری های متداوم رژیم مزدور می اندازد ؟ وباتکرار مکرراین جملات که «چند عضویك سازمان به اصطلاح دیموکراسی خواه !! »بعد از محاکمه خصوصی درمحاکم رژیم از زندان رهایی یافته اند ، می خواهد نجیب وحشی این قاتل هزاران هزار هموطن مظلوم مارا بحیث یك سمبول دفاع ازحقوق بشرجلوه دهند !

مگر بمباردمان های وحشیانه وظالمانه هوایی وزمینی رژیم کابل که از اغاز سال ۱۹۹۱ میلادی تاهم اکنون بشدت تمام برمناطق ازاد ومسکونی ولایات اطراف کابل همچنان ولایات دوردست کشور ، دوام دارد وهمه روزه باعث هلاکت ده ها تن ازهموطنان بی گناه ما اعم از اطفال ، زنان و پیرمردان بی بضاعت می گردد، نمی توانست بحیث یك نکته تخطی ازحقوق بشر ، از جانب رژیم کابل یادداشت گردد ؟ ودرگزارش سال ۱۹۹۱ سازمان عفو بین المللی بحیث سازمان مدافع حقوق جهانی بشر ذکری ازان می امد !

ایا جنایات تاریخی رژیم مزدور درطول ۳ ماه گذشته درولسوالی زنده جان ونقاط دیگرولایات باستانی هرات که باعث هلاکت هزاران تن از اهالی ان مناطق وبی خانمان شدن بیش از (ده هزار) خانواده تااکنون گردیده است ، موارد صریح تخطی ازحقوق بشر نیست ؟

مگرهمه جهانیان درنیمه اول سال ۱۹۹۱ شاهد هلاکت بیش

مونږ په افغانستان کې دروسي نمايندګان اوبی دينه اوبی مذهبه خلك نشو منلاي ، که اسلامي هيوادونه اوحتي ټوله نړۍ یي هم ترڅنګ ودريږي

پوښتنه : دجنوبی محاذ دجبهاتو دعمومی قوماندانی مرستیال محترم مولوی صاحب لطفاً دجهاد هنداری جریدی درنو لوستونکو ته معلومات ورکړی چی دخوست دفتحی دنظامی عملیاتو لپاره چی کومه شورا جوړه شوی هغه اوس هم شته اوکه له منځه تللی ، که فعلاً وی څه فعالیتونه کوی ؟

ځواب : اعوذ بالله من الشیطن الرجیم ، بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین ولعاقبة للمتقین والصلوة والسلام علی رسوله محمد واله واصحابه اجمعین واما بعد !

دخوست جوړی شوی دوی شوراګانی وی چی یوه یی امنیتی شوراوه دغه شورادخوست له فتحی څخه وروسته ترننه پوری فعاله ده ، دغه شورا دنده لری څوړه سیمه کی امنیت ټینګ کړی ، ملکی املاك وساتی ، دچوراوچپاول مخه ونیسی اودخلکو دشتمنیو اوابادیو ساتنه به کوی او همدارنګه دمجاهدینو په منځ کی داحتمالی برخوردونو اودغنیمتونو دویشنی په هکله به پریکړی کوی دغه شوراله ګیرومحانونو څخه جوړه

دخوست لویه شورا به دنده لري چي له بهرنیو هیوادونو اومؤسسو سره اړیکي ونیسي څوتعمیرات ،مکاتب،مسجدونه ، مدرسي ، ښوونځي ، سړکونه اونوري چاري سمبال کړي

شوي ده . بله شورا دخوست دادارې اوحکومت جوړولو لپاره فعاله شویده که څه هم پدی ټکی باندی یوه فیصله شوی څوتراوسه په کارپیل ندی شوی ځکه چی ځینو تنظیمونو دیو شمیر ستونزو له کبله دامسله ځنډولی اوویلی یی دی چی پدی سل کسیزی شورابادی به یو ځل بیاغور وکړو ددی شوراله لاری به دخوست والی ټاکل کیږی اونهه کمیتی یامدیریتونه به پکی شامل وی داداری واحدونو لکه علاقداری اوولسوالیو لپاره به مشران ټاکی دخوست لویه شورابه دنده لری چی له بهرنیو هیوادونو اوموسسو سره اړیکی ونیسی

څوتعمیرات ، مکاتب ، مسجدونه ، مدرسی ، ښوونځی ، سړکونه اونوری چاری سمبال کړی .

پوښتنه : محترم مولوی صاحب دخوست له فتحی وروسته مجاهدینو غوښتل پرګردیز ګډ عملیات پیل کړی خودغه عملیات تراوسه پوری ځنډیدلی علت یی څه دی ؟

ځواب : پرګردیز دعملیاتو دځنډیدو علتونه دادی چی دخوست په فتحه کی لاس ته راغلی درنی وسلی ، چی باید دنورو عملیاتو داجراکولو لپاره محاذونو ته ورکړل شی او وروسته له هغی ځینی اسباب اووسلی چی له کاره لویدلی دی اوترمیم ته اړتیالری دهمدغو محاذونو له خوابايد جوړاو په کاروا چول شی اوهم دخپلو عملیاتولپاره انتقالات پیل کړی چی تراوسه پوری دغه کارونه ندی ترسره شوی .

بله فیصله داده چی دخوست شوراګانی دګردیز د پنځو جبهو له شوراګانو سره یو ځای ګډ عملیات پیل کړی چی ځینی اکمالات ترسره شوی اوځینی یی دانتقالاتو دوسایلو دنه درلودلو له کبله پاته دی هغومجاهدینوچی اوس خپل اکمالات اوانتقالات کړیدی هغوی په ګردیز باندی خپلو

عملیاتو ته دوام ورکوی اودکابل رژیم دهمدی وارخطایی له امله هره ورځ بمباری کوی اوسکړ توغندی واروی .

درژیم دقواوو په پوستو باندی بریدونه ، دمرچو جوړول اودډښمن دقواو محاصره پیل شوی ده خو عمومی هجوم هلته کیدای شی چی دخوست ټول قوتونه اوتوپچی قواوی اماده اوخپل عملیات پیل کړو.

پوښتنه : پدی وختونو کی دانتقالی دوری لپاره دظاهرشاه درامنځته کیدو اوازی خپری شوی دی ایا دظاهرشاه راتګ دانتقالی دوری لپاره کومه ګټو ره اغیزه لری ؟

ځواب : دا مفاسد اوالحادی نظریات دظاهرشاه دحکومت په وخت کی خپاره شوی اوکله چی ظاهرشاه دافغانستان څخه بهر ووت اوداود رامنځته شونوله خارج څخه یی اعلان وکړ اودداود روس پلوی رژیم یی په رسمیت وپیژاند که اوس ظاهرشاه افغانستان ته راځی پدی کی څوعوامل پراته دی ، یو هغه خلك ظاهرشاه غواړی چی

روس اوس دنجیب پر ځای ظاهرشاه ته مخه کړی اوغواړی چی دده له لاری بیاهم په افغانستان کی خپلی کمونستی اړیکی ټینګی کړي اولکه دپخوانی دوری په څیر به هماغسی فحاشي اوعیاشي وي

مجاهدین نه دی بل هغه خلك دی چی نه په اسلام کی دی اونه په کفر کی فقط دچوکی اواقتدار لپاره په افغانستان کی اوسیدل غواړی اوهم هغه پلی چی خلقیان دی اویاپرچمیان اودخپل منځی اختلافاتو له امله اوس په غربی هیوادونو کی اوسیږی اویامسکو کی ژوند کوی هغوی هم ظاهرشاه ته ترجیح ورکوی روسان هم له دی ویری څخه چی مجاهدین به له موږ سره حساب وکړی اوزموږ دفعالیت لاری به په اینده کی وتړل شی ، نوموږ وایو چی په هیڅ ډول سره ظاهرشاه نه شی کولای دمجاهدینو په سرنوشت لوبی وکړی هو که چیری افغانستان ته راتلل غواړی باید ووایی چی زه مسلمان یم اودمجاهدینو دحکومت اوقیادت لاندی اواسلامی اصولو سره افغانستان ته راتلل غواړم .

روس اوس دنجیب پرځای ظاهرشاه ته مخه کړی اوغواړی چی دده له لاری بیاهم په افغانستان کی خپلی کمونستی اړیکی ټینګی کړی اولکه دپخوانی دوری په څیریه هماغسی فحاشی اوعیاشی وی نوداویلای شوچی ظاهرشاه هیڅوك هم نه منی ځکه هغه اعصاب له لاسه ورکړی دی یووخت له ظاهرشاه څخه خبریالانو پوښتنه کړی وه چی دهغه وخت راهیسی چی له افغانستان نه راغلی یی خپل وخت په څه کی تیروی ؟ ده

ورته په ځواب کی وویل چی زه خپل وخت په شطرنج تیروم پداسی حال کی چی دی دافغانستان سربراه ؤ خوږدی ټول عمرکی یی دملت غم نه دی خوړلی نه یی دمجاهدینو پوښتنه کړی اونه دمهاجرینو. موږ نه دشوروی نمایندګان په افغانستان کی منلای شو اونه بی دینه اوبی مذهبه خلك .که څه هم نړی اوحتی اسلامی هیوادونه یی په څنګ کی ولاړوی

موږداولی ورځی څخه دظاهرشاه دکفری قوانینو مقابله کړیده.

هغه څوك چی په اسلام ندی خبرهغوی به دظاهرشاه غوښتنه کوی خوموږ داوایو چی کفری قوانین دظاهرشاه په دوره کی راغلی ، دپرچم اخبار دده په وخت کی راووت ،

لینن باندی درود دده په وخت کی وویل شو ، پیغمبر(ص) ته دده په وخت کی نعوذ بالله منها دظالم ، عیاش اودسیسه کار خطاب وشو، ښځی دده په وخت بربنډی شوی. په هماغه وخت کی موږ ورته اعلان کړی ؤ چی که اصلاح نه شی نو جنګ به ورسره کوو اودده په وخت کی مودخوست څخه دکمونستانو لښکر ایستلی دی ظاهرشاه که دیوه عادی فرد په توګه هم راځی نو دافغانستان ددارایی اوبربادی پوښتنه به تری کیږی اوهم به دمسلمانانو سره دظلمونو محاسبه ورسره وشی اوپرته له محکمی په افغانستان کی حتی داوسیدو حق هم نلری .

پوښتنه : پدی وروستیو وختوکی دملګرو ملتونو له خوا دافغانستان دقضیی دسیاسی حل لپاره یو پنځه فقره ایزه طرحه وړاندی شوی وه ستاسو په نظر سیاسی حل غوره دی اوکه نظامی ؟

په شپږم مخ کې

کنفرانس مطبوعاتي مسول دفتر سیاسي شوراي سرتاسري قوماندانان

گزارشگر « رحیمزي » عکاسي: شیرین اقا

چهارشنبه گذشته ۱۹ سرطان کنفرانس مطبوعاتی دردفتر سیاسی شورای سرتاسری قوماندانان جهادی به ارتباط فتوحات اخیر مجاهدین درصفحات شمال کشور بخصوص (درولایات تخاروکندز) دایر گردیده بود ، که دران برعلاوه « محمد یونس قانونی » مسول دفترسیاسی شورای قوماندانان ، عده از قوماندانان جهادی صفحات شمال کشور نیز اشتراك ورزیده بودند .

کنفرانس مطبوعاتی حوالی ساعت ۱۰ قبل ازظهر اغاز یافت درابتدا محمد یونس قانونی راجع به فتوحات اخیر سمت شمال و تلفات دشمن دران منطقه به خبرنگاران معلومات داده و در سخنرانی خویش گفت :

« شاید شماهم اطلاع داشته باشید که درمیزان سال گذشته جلسه مهم شورای قوماندانان به اشتراك احمد شاه مسعود امیر شورای نظار جمعیت اسلامی درشاه سلیم دایر گردید، درین شورا درپهلوی توافقات یك سلسله مسایل مهم وعمده استراتیژی نظامی شورای سرتاسری قوماندانان تعیین شد ، درطی این استراتیژی نظامی یك سلسله نقاط مهمی از ولایات مختلف افغانستان تعیین شد ، تاعملیات بالای ان اغازگردد ، خوست ، خواجه غار ، خان اباد ، قطع پایه های برق درسروبی وامثال ان ازجمله اهداف عملیاتی بود که در جلسه شورای قوماندانان روی ان فیصله صورت گرفت ، همچنان بعد از جلسه شورای سرتاسری قوماندانان ، جلسه ششم شورای نظار دراوایل سال جاری دایر گردیده وبه تصویب رسید که درسراسر قلمرو شورای نظار باید عملیات سرتاسری اغاز گردد ، قبل ازاغاز عملیات مجاهدین درسمت شمال الحمد لله خوست مطابق به استراتیژی شورای سرتاسری فتح گردیده بود ، واین فتح دستاورد بزرگی بود برای شورای سرتاسری قوماندانان »

وی افزود : بعد ازانکه خواجه غار بدست مجاهدین افتاد دشمن بااستفاده قوای هوایی واستعمال راکت های سکد واوراکان و لونا بالای مرکز شهر خواجه غار فشار خود راشدید ساختند ، مجاهدین بخاطر هموار بودن ونامساعد بودن اراضی ، وبمبارد شدید و ۲٤ ساعته دشمن ازیکطرف وهمچنان معامله عده از افراد سست عنصر بارژیم مزدور که درعملیات فتح شرکت نداشتند ، مرکز خواجه غار راروی تکتیك خاص تخلیه نمودند ومجاهدین به خط دوم مدافعه عقب نشینی کردند .

قانونی درادامه سخنان خود گفت :

قوت های ذیل درحمله دشمن بالای خان اباد سهم داشتند

١ – فرقه ٥٤

۲– فرقه ۳۰

۳– فرقه ۸۰ مربوط ملیشه سید کیان

٤– فرقه ۵۳ مربوط ملیشه رشید دوستم

٥– فرقه ۱۸ مزارشریف

٦– قول اردوی نمبر ٦ کندز

۷– وافراد باقی مانده فرقه ۵۵ خواجه غار

رهبری حمله بالای خان اباد راجنرال جمعه اخك وبچه سید کیان بدوش داشتند .

قانونی علاوه نمود :

اخرین تعرض دشمن بالای شهر خان اباد بااشتراك نیروهای ذیل صورت گرفت :

١– قول اردوی نمبر ٦ کندز

۲– فرقه ۸۰ مربوط ملیشه سید کیان

۳– فرقه ۱۸ مزارشریف

٤– فرقه ٥٤ کندز وقوتهای دیگررژیم

که رهبری همه انها بدوش جنرال اخك وپسرسید کیان بود حمله اخیر بتاریخ ١٤ سرطان صورت گرفت ، مقاومت مجاهدین بااشتراك تنظیم های جمعیت اسلامی ، اتحاد اسلامی ، حرکت انقلاب اسلامی ، حزب اسلامی (خالص) ، محاذ ملی اسلامی ، جبهه نجات ملی اسلامی ، وحزب اسلامی حکمتیار شروع شد که این حمله دشمن هم همچو حمله های قبل خنثی وباشکست مواجه گردید .

قانونی درمورد تلفات دشمن درجنگ اخیر خان اباد چنین گفت :

دراخرین تعرض دشمن جمعاً ۲۰۰ نفر کشته شده ، ۳۰۰ نفر زخمی ، ۲۵ تانك منهدم ، و ۲ تانك به غنیمت گرفته شد ، ۳۰ عراده موتر تخریب و ٦ عراده موتر به غنیمت گرفته شده ، دومیل اسلحه دافع هوا ، همراه باتعداد زیادی از اسلحه خفیف وثقیل دشمن به غنیمت مجاهدین درامد ، امار وارقام دقیق راجع تلفات دشمن درجنگ های قبلی تاحال به مانرسیده واین ارقام تنها مربوط به تعرض اخیراست . ازهمه نیروهای مجاهدین بصورت مشترك ۳۰ نفر به شهادت رسیده ودرحدود ۱۰۰ نفر زخمی شده اند .

مسؤل دفترسیاسی شورای قوماندانان دراخیر صحبت خویش ازخسارات مالی که به اهالی منطقه وارد امده صحبت کرده گفت :

«درنتیجه فشارهوایی شامل بمبارد واستعمال راکت های مختلف النوع دشمن تلفات اهالی درمنطقه بیشتر بوده وهمه خرمن های اهالی منطقه توسط بمبارد دشمن حریق شده هزار ها جریب زمین زراعتی ازبین رفته است که وضع باعث هجرت عده زیادی ازاهالی منطقه گردیده وبه نقاط پرامن پناه برده اند ، بخاطر وضع خیلی اضطراری وخطرناك درمنطقه ازهمه موسسات خیریه اسلامی وغیر اسلامی خواهان همکاری وکمك هستیم .»

بعد ازانکه محمد یونس قانونی گزارش مفصلی ازجریان جنگ های اخیر رابه خبرنگاران ارایه کردند عده از خبرنگاران سوالاتی راجع به موضوع مطرح ساختند که ازجانب وی جواب ارایه گردید کنفرانس مطبوعاتی مذکور حوالی ساعت ۱۱ و ۳۰ دقیقه قبل ازظهراختتام یافت .

دجهاد فلسفه

مولانا عبدالحمید

جهاد داسلام په سپیڅلی دین کی یو مهم اصل دی چی داسلا م اومسلمانانو پوری اړه لری دنورو ادیانو پیروان ددی پاکی کلمی څخه دځان لپاره داستعمالولو حق نلری .

څکه چی جهاد په اسلام کی دیوعبادت حیثیت لری په دی وجه دمسلمانانو څخه بیغیر بل چاپوری رابطه نه نیسی .

جهاد د جهد دکلمی څخه مشتق شوی چی په لغت کی دکوشش په معنی دی .

اصطلاح کی دکفری تسلط دله مینځه وړلو او داسلام دقایمولو څخه عبارت دی ، یاپه بل عبارت جهاد دهغه کش مکش نوم دی چی دحق دتحقق اودباطل دریښتینی بطلان حقیقی قضیه په برکی نیسی .

دجهاد دلفظ یواځی هغه وخت استعمالیدای شی چی دمسلمانانو اوکفارو ترمینځ کشمکش وی یعنی یوخواکاملاً دقران مجید عقیده وی اوبل پلو دقران څخه غیر عقیده خوهغه هر نوع اوشکل چی ولری (کفری عقیده وی اومسلك) وی .

دجهاد دلفظ استعمال په نورو جگړو کی داستعمال وړندی . په دی معنی که دمسلمانانو خپل منځنی جگړه وی اوداسلام اوکفر مسله پکی مطرح نه وی جهاد ورته نشی ویلی همدارنگه که دکفارو ترمینځ جگړه وی جهاد ورته ویل گناه ده اوکه دکفارو اومسلمانانو ترمینځ اخ ، ډب وی اوداسلام دتحقق موضوع پکی مطرح نه وی اوپه کوم ذاتی غرض اویا څه مادی مقصد باندی تکیه وی اعلی دکلمته الله پکی منظور نه وی ، دی ټولو شخړوته دجهاد نوم ایښودلی نشی .

په لنډه وینا جهاد دحق اوباطل هغه مقابلی ته ویل کیږی چی انتهایی هدف یی داسلام دتوغ پورته کول اودکفر دبیرغ له مینځه وړل دی . لکه څنگه چی موږ ویل جهاد دجهد څخه عبارت دی ، دقران کریم په اصطلاح کی دقتال په معنی هم راغلی لکه چی الله (ج) فرمایی

ترجمه :

جهادوکړه ای پیغمبره دکافرانوسره په توره اومنافقانوسره په ژبه اودلایلو

یعنی دکافرانو اومنافقانو دحیثیت سره سم دهغوی په مقابل کی جهاد وکړه .

جهاد دوه ډوله دی ، یولوی جهاد ، یووړوکی جهاد .

لوی جهاد : دنفس اوشیطان دمقابلی څخه عبارت دی ، اودی جهاد ته ځکه لوی جهاد وایی چی دمقابلی په لحاظ دنورو جهادی مقابلو څخه څو چنده گران دی دیوی خوا دښمنان پټ دی اوهروخت په مسلمان باندی دحملی کولو لپاره اماده دی . اودنفس شیطان دارزوگانو سره مقابله ډیره سخته ده نسبت دیته چی یو مسلمان انسان دبل کافر انسان مقابله کوی اونبی کریم (ص) دشیطان دوجود په باره کی مهربانی فرمایی څنگه چی دانسان بدن کی وینه گرځیږی کټ مټ دغه شان شیطان هم دانسان بدن کی گرځیږی . نو په دی اساس دنفس اوشیطان مقابله مشکله ده اوځان ساتل ترینه سخت کاردی ځکه ورته لوی جهاد ویل کیږی .

وړوکی جهاد : دهغه جهاد څخه عبارت دی چی مسلمانان دکافرو سره په توره ، توپك ، ژبه ،قلم . . . باند ی جهاد کوی څرنگه چی په دی معرکه کی غلیم څرگند دی اودمسلمان څخه تل لپاره فاصله لری خواه دافاصله زیاته وی یاکمه خو حتمی جداوی .

دواړه جهاد انواع په اجمالی ډول په تعریف کی ذکرشواوداهر یوقسم جهاد ځانله ځانله اجر اوثواب لری اود اجر اوثواب اندازه اودرجه هم متفاوته ده .

حضرت رسول اکرم (ص) فرمایی دانس (رض) څخه روایت دی چی رسول الله (ص) وفرمایل ، پخپلو مالونو ، نفسونو اوژبو باندی دمشرکانو سره جهادوکړی الحدیث .

کوم انواع دجهاد چی په حدیث مبارك کی مذکور دی دادریواړه اقسام دجهاد ډیر زیات مهم دی دتاثر په لحاظ اونور اقسام یی هم شته ، دجهاد موضوع دکم وکیف له مخی ډیره دپراخه اوځیحه ده اوټولی خواوی یی په منصوصی اوقیاسی (عقلی) جنبو باندی تنویردی اما اوس سوال دادی چی جهاد څرنگه باید پرمخ ولاړ شی ، کړنلاره اومحتوی څنگه ده ؟ دجهاد خصوصیت به څه وی ؟ اویو مجاهد به څه وخت درست مجاهد وگڼل شی ؟ اومجاهد باید څنگه عیارشی یومجاهد باید داسی عیاراواماده کړای شی چی مقصد او هدف یی په عمل اوجهاد کی دده دعقیدی دعینی تجسم ښکارندوی وی یعنی یو مومن مجاهد باید داسی رساعقیده ولری اودومره پخپله عقیده کی پوخ شوی وی چی هدف یی صرف دالله رضا وی په هرحالت کی خوا هغه کامیابی وی یاناکامی خوشحالی وریاندی راځی یا مصیبت خوددی په ټولو صورتونو اوبختونو کی

په پنځم مخ کې

جهادي ادب

دادي سپيدې په چاودېدودي دافق لوري ته
دتورې شپې په سرو ديوانو دغم غرونه لوېږي
په نړېدو دي دكريملين دنحوست برجونه
دسور سحر په ملحدانو تندرونه لوېږي

غلبلي

محمد سرور «صديق مل»

دغمونووحشتونو غلبلي وې غلبلي
دسرو وينو فوارې وې فوارې
سرې لمبې پورې په مخ دشين اسمان وې
تورې وريځې راخورې وې راخورې
بلبلان په چيغو سرېه ژړا سروو
په گلشن كې گردلي وې گردلي
اباد كلي ؤ وران شوي لوټې لوټې
كلى څه چې كنډوالي وې كنډوالي
كوكې چيغې وې په كور دافغانانو
پدوي جوړې تماشې وې تماشې
ماتم اووير وو كربلا جوړه وه
په هريو كوركې جنازې وې جنازې
غرزا درزا وه سرې گولۍ وريدې
خدايږو عجيبې ننداري وې نندارې
خوصديق مل په وينو كښل شعرونه
سويو آهونو انگازې وې انگازې

جهادي خاطره :

په دبرينو ، گړنگونو كې

شفيقي

دا زموږ دهغو ستړيو شپوورځو كيسه ده ، له ستومانيونه ډكوحادثوپادونه چې ياد يې يوازې هغه وخت له سړي نه وركيږي چې د مرگ په خوب ويده شي .زه چې هغه ورځ ر ا په ياد وم اوس مي هم په بدن سټر يا غلبه كوي ، سترگي مي خوبوړي شي پښي مي درني شي او بيامي

په اوږو همغه دغمونودروند باراحساسوم هغه ورځ راپه ياد شي چې نوم يې خوشحالي دي خوموږ بيا دغمونو بارونه پكي وړل ، هغه داختر ورځ وه موږ نور دستوماني هسي حالت ته رسيدلي وو چې لړه شيبه دمه او ناستي راته ددنيا ترټولو سترنعمت ښكاره كيده خوموږ له دغه نعمت نه محروم وو .كه به چا لږ څه ددمي دجوړولولپاره ځان دځمكي په خواوركوږكړ له هري خوا به پري وارخطا غوندي ږغ شو ،

ددمي فرصت نشته ،همت كوه ناوخته كيږي .

اوبيا به ټول ديوى اوږدى دمي اوږوي ښي شيبي خوب په طمعه او هيله په كړپنده لاره په ستړيو ستړيو لوړو او ځوړوښكته او پورته كيدو . هغه داختر ورځ وه ، دازما دژوند دوهم اختر وه چې د اخترونو دقانون اودستورپه خلاف وه له دينه وړاندي اختر مو دپرديسيو په ماحول كې ؤه اودادى دا دوهم اختر نن بيا په موږ په داسي حالت كى را غبرگ شو چې په اوږو مو غمونه وړل موږقبلې لورى ته دغره په لمنه كى كتار روان وو ، هرچابه ښايي دخپل ژوند تيرخواږه اوترخه يادونه راسپړل دټولو سرونه ځمكي لورته ځوړند وو ، ټول ستړي وو ، ستړي ستړي گامونه په كانو ډكه لاره ورو ورو شميرلي شميرلي پورته كيدل او يوغمجن غوندى ترپ تروپ يى په بى سور اوتاله

غرفضا ته خوراوه .

له ستوماني سره سره نن دټولو په څيرو كى خفگان ځپى وهلى ، اودغه ځپى به هغه وخت لاځپاندى اوستري ښكاريدى چې سړي ته به ورپه ياد شول چې نن داختر ورځ ده ، عجيبه غوندى ورځ وه زموږ ښى لورى ته داله سنگ اوعليشى غره گړنگونه هم نن ډير هيبتناك اووېرجن ښكاره كيدل ، داسى ايسيدل لكه له ماتمه چى ژاړى لكه چې موږ ته گورى اوزموږ پراوږو دغمونو بارونو ته چې كسبى ، زما ښه په ياد شى سپينه رڼا ورځ وه موږ لس دوولس تنه وو خوچې مابه ښى لورى ته دعليشى دغره خړو خړو گړنگونو ته ووكتل داسى به ښكاره كيدل لكه دكوه قاف غره اوماته به خپله ډله ديوانو ځپلى قافلى ته ورته ښكاره شوه ، موږ رښتيا هم ديوانو ځپلى قافلى ته پاته كيدو ؛ ستړى ستومانه چى

دستوماني ايستلو ته وزگار نه وو ، بى خوبه وږى تږى چې بيامم په كنده كړه لاره تگ اومزله ته مجبور وو ، دټولو په خولو دسكوت مهرونه لگيدلى وو ، دخوروونكى اوغموونكى سكوت مهرونه ، اوبيا لږ لږ دخفگان اوخواشينى پرگردونو هغه وخت ديوى نامعلومى خوښى ځركونه وځليدل چې موږ دشنى سمسورى درى په ښكلو باغونو سترگى ولكيدى ، خولكه نن چې غم زموږ مقدر وى دغه دكمزورى خوښى وړانگى هم هغه وخت وركى شوى چې موږ دسمسورى درى رومبى كلى ته ورسيدو ، په كلى كى اخترو ، دكليوالو په څيرو كى داختر دخوښى احساس له ورايه ښكاره وو موږفكركاوه چې ښايى دغه خوښى موږهم ورسره واخلي زموږله اوږونه دغم بار كوز شى اوڅه شيبه په خوښى

په پنځم مخ كي

لنډه كيسه

دوروستي ديدن په طمعه

محمد هاشم «رحيمي»

هغه فريادونه مي اوس هم په غوږونو كې انگازې جوړه وي :

واى خدايه ... داڅه وشول ... په چيغو به شو اوبيا به يې دلږسكوت وروسته فريادونه شروع كړل دهغه كالي په وينو ليت پيت وو سپينه واوره يې دتن په وينو سره كړې وه .

دلږزرينو وړانگو په سپينه واوره كې دنيك وينو ته داسي ځلا وركوله تابه وې چې دغره په لمن كې سره گلان رازرغونه شوي دي .

ښايسته څيره يې اوس زيږه پيږه اوښتي وه دهغه دروغيدو امكان نه ليدل كيده هرڅو كليوالو ورته وويل چې مه يې وره دجوړيدونه دى خوسردارکاكا دخپل زړه منلي و اودبل چاخبره يې په غوږنه لگيده ، سردار دبې كسى درنو پيټو ډير زيات ځورولى ؤ ځكه يې نيك دېواخيستى هيلې په توگه ترځان هم زيات گاڼه .

سردار په دې ورځ په ځان نه پوهيده ، ډير لوى غم توپان سره مخامخ و هغه توپان چې دده دزړه ټوټه يې ترى جلاكوله .

نيك دډيرو نيمگړو ارمانونو سره دروغتون په بستر كې ساه وركړه ، دهغه دمظلومې مورينه دنيك له تپى كيدو سره بدله شوي وه اوشونډو يې وچ وچ پترې نيولي وډليونۍ په شان به له ځان سره وبوگنيده .

شونډې به يې وښولى :

خدايه ... همدا يواځنى هيله مي ده بيابه يې دټيكرې پيڅكه سترگو ته ونيوه سلگيوبه پسې واخيسته ... نه زموږله حاله دې خداى مسلمان وساتي :

خلكو به په هغې دليونى گومان كاوه .

خو ! هغه ليونۍ نه وه هغه په هرڅه پوهيده ډيروغمونو اوكړاوونو دي حال ته راوستي وه هرمازديگر به دكورپه دروازه كې ناسته او له روغتون څخه يې دنيك

دراتگ لارې څارلې په «وچه الگد» به چې موټر راښكاره شو زړه به يې په توپونو شو اوچورتونوبه په مخه كړه

شهيد شوى نه وې بيابه لاس په دعاشوه ... خدايه نورخو مى په داسپين سرمه ځوروه ، باد به چې والوت دواورو بڅريوبه هم پرمخ خپيږې وركولې ډير سخت ژمى و واورې داسې ټوله سيمه تكه سپينه كړى وه تابه وې چې ټولې سيمې ته يې كفن وراغوستي دى هره خواچوپه چوپتيا وه اوكله ناكله به دغه چوپتيا دليوانو په غږونو ماتيدله دځيلى ساړه هم دوږو ليوانو په شان پرخلكو منگولې لگولې ددې پښې به ديخنى له لاسه تكې سرې شوې اودنيك غم بياله ځان سره واخيسته

...بچيه چې څنگه به وې ... دژمي لنډې ورځې ډيرې په چټكى سره تيريدې خداورځ پردې دقيامت په شان سخته اوږده شوه دمازديگر سيورى دخوږ نه راپورى وت لمرهم

ورو ورو خپلى زرينى وړانگې راټولولې اودنگو دنگو شوكونه يې خداى پاماني كوله .

دالاد هغه په طمعه ددروازې ترڅنگ ناسته وه دنيك دتپي كيدو ټولې صحنې يې دسينمار دپردې په شان ترسترگو تيرې شوې هلته چې دبم له درز سره هغه په وينو كې خويشت پيشت پروت ؤ اودې هم ډير په نااميدى ورته كتل ښايي په زړه كې يې تيريده چې وروستى ديدن يې نشى، سوراوسيلى يې وكيښ اوپه سترگو كې يې داوښكو ډنډونه ودريدل پرهغې دنيك ترټپى كيدو وروسته خوب حرام شوى ؤ دهغه دديدن په طمعه يې ډيرې شپې رڼې سبا كړى وې ... كاشكې زويه !

اخيرې ځل لپاره مې يوه شيبه ژوندى ليدلى وى اودخوږلن وهلى گوگل څخه مې درته په چيغو چيغو ژړلي وى .

دافغان مجاهد

ملااسدالله حنيفي

صدافرين دې په همت وي دافغان مجاهد
سردې له دې نه هم اوچت وي دافغان مجاهد
چې دحسين (رض) په څيرې ځان كړم كړم كړو خلكه !
په دااخلاص دې بركت وي دافغان مجاهد
څومره په مينه يې دجنگ ډگر ته منډه كړله
په داسې مينه دې رحمت وي دافغان مجاهد
دخداى (ج) په لاره قدمونه خويې تاوليدل
څومره په ځغرده حركت وي دافغان مجاهد
څنگه يې ځان لكه بلال (رض) په سرو لمبو وريريښود
اخـــــرمنزل دې په جنت وي دافغان مجاهد
څومره تودې گولۍ يې يخې شوې سينه كې ورونو
سلام سلام دې په جرئت وي دافغان مجاهد
په گرمه وينه يې اوبه كړل داسلام گلونه
نصيب دې فتحه اونصرت وي دافغان مجاهد
څومره په نره يې روسان له ملكه وشړله
لادې غښتلې زورقوت وي دافغان مجاهد
زه (حنيفي) به داسلام له څواكه شمه لوگى
هرڅه مې ځارتردې قوت وي دافغان مجاهد

پنځلسمه برخه.

په افغانستان کې دکې، جي، بي ورانوونکي فعاليتونه

داکسا، کام، خاد، واد - تشکيلات، فعاليتونه اوجنايات

عبدالوکيل

دتره کی له وژل کیدوځخه وروسته دده (تره کی) دريو طرفدارانو اسلم وطنجار، سيد محمد ګلاب زوی اوشيرجان مزدوريار چې دروسانو سره يې مستقيمې اړيکې درلودې دامين له ويرې په کابل کې دروسانو سفارت ته وتښتيدل اودروسانو دنظامي مداخلې ځخه وروسته (۱۳۵۸/۱۰/۶ هـ ش) ګلاب زوی يې دکورنيو چارو دوزير په صفت وټاکه، وطن جاريې دمخابراتو وزير اومزدوريار يې دترانسپورت وزير په حيث مقرر کړ.

امين دژبو او منطقوي تعصباتو په راژوندي کولو سره پرځان باندې يو شمير افسران اوځوانان راټول کړای شول اوهم يې په خاصه رويه سره يو شمير افسران او نور مهم اشخاص دځان طرفدار کړل کله به چې کوم افسراويا بل شخص هغه چې دده لپاره به مهم ؤ دامين دفتر ته راغلل امين به له هغې ټولې دبدبې اوخاصې او تورېتې سره چې درلوده يې له خپلې چوکۍ ځخه پورته شو په وړين تندي اوخندا ډکه خوله به يې دهغه سره ستړی مشی او روغبړ وکړاوديوه چای په يوځای خوړلوسره به يې نوموړي اشخاص دې ته تيار کړل چې بايد شخصا دده (امين) پخاطر قربانۍ ورکړي.

دامين دقدرت په وخت کې دتره کی دلې دروسانو په دستور يوه کودتا پيل کړله خوناکامه شوه اودکودتا يو شمير اصلي ګډون کوونکي يې ونيول اوله منځه يې يوړل. امين دتره کی دله منځه وړلو ځخه وروسته دکم وخت لپاره په قدرت پاتې شو (۱۳۵۸/۶/۲۶-۱۳۵۸/۱۰/۶ هـ ش) اوېدې موده کې يې ټول هغه خلقيان چې په دولتي اوګوندي لوړومقامونو کې يې کارکاوه اوده ته (امين ته) وفادار نه وودخپلو وظيفو ځخه وشړل دقانونيت، مصونيت اوعدالت ترشعارونو لاندې يې يوشمير بنديان ازاد کړل خودې دامعنا نه درلوده چې ديکتاتورۍ اووحشت کم شوی ؤ امين ټول هغه کسان چې دده سره يې جدي مخالفت کاوه يايې شهيدان او ووژل اويايې بنديان کړل اوپه انسان وژنه اودافغانستان دمسلمانانو په تهديد، تعقيب، غير مصونيتی اودبی عدالتی په اړوند تره کی، امين، کارمل اونجيب ديوه اوبل ځخه کم نه ؤ او همدا اوس روسان او مزدوران يې (خلقيان، پرچميان اونور اجنتان يې) دافغانستان دټولو مادي اومعنوي ارزښتونو په تباه اوبربادی کې خپل وس نه سپموي اودمسلمانانو دشهيدولو او غولوني خطرناکې طريقې پکاراچوي.

> دتره کي له وژل کيدو ځخه وروسته دده (تره کي) دريوطرفدارانو اسلم وطنجار، سيد محمد ګلاب زوي اوشيرجان مزدوريار چې دروسانو سره يې مستقيمي اړيکې درلودې دامين له ويرې په کابل کې دروسانو سفارت ته وتښتيدل.

دامين دقدرت په وخت کې يعني د۱۳۵۸ هـ ش کال نيمايي ځخه وروسته دامين دغير اسلامي رژيم پرضد دکابل په ښار کې دوه لوی وسله وال اسلامي قيامونه وشول هغه اسلامي وسله وال قيام چې دکابل بالاحصار ځخه پيل شو دپوځيانو اوولس لخوايې په ګډه صورت ونيوه دوی په لنډه موده کې دکابل بالاحصار اودهغه ځيرمه منطقې ازادې کړې اودارګ په لوري يې حرکت پيل کړ په دې موقع کې دامين غير اسلامي رژيم چې په نظامي، سياسي، ايډيالوژيکي او اقتصادي ساحوکې په روس پورې تړلی ؤ، هوايي او ځمکنيو قواؤ دقيام دپرمختګ مخه ونيوه اوديوې سختې خونړۍ جګړې ځخه وروسته قيام کوونکي تکتيکي عقب نشينی ته مبجور شول اوبالاحصار بيرته دامين پلوی قواؤ په لاس ورغی همدارنګه دامين غير اسلامی رژيم پرضد د«چنډاول» ښل هغه اسلامي وسله وال قيام ؤ کوم چې دامين متزلزل رژيم يې دنسکورولو درشل ته ورساوه په دې وسله وال اسلامي قيام کې هم زيات شمير مجاهدين شهيدان شول اودامين پلوي قواؤ ته يې دسرا ومال ښې دريغه تاوان واړاوه خو دکامل سقوط ځخه يې نجات پيدا کړ.

امين او روسانو يواوبل په تشو خبرو سره تير ايستل روسانو دامين له منځه وړلو لپاره دهرې مناسبې اوممکنې وسيلې اولارې ځخه کار اخسته اوپه روسانو باندې دامين اعتماد نور هم کم شوی ؤ روسانو او دامين هغو مخالفينو چې دروسانو ځخه يې طرفداري کوله او يو شميرنورو سياسي وګړو داسې تبليغات کول چې امين له مخالفينو سره تماس نيولی ترڅو په قدرت کې يې شريك اوپه ګډه سره ائتلافي حکومت جوړکړي.

روس ته دتره کی له سفر ځخه پخوا روسانو هغو پرچميانو ته چې سفيران اويا باندنيو هيوادو ته تښتيدلي وودستور ورکړ چې مسکو ته راټول شي دغوسفيرانو دورسپارل شويو سفارتونو دهغې جملې ځخه دامريکا متحده ايالاتو، انګلستان، پاکستان، ايران اويو شمير نورو هيوادونو کې دافغاني سفارتونو دارايی لوټ او دخانو سره يې مسکو ته نقل کړي.

په دې وخت کې کی، جی، بی دبهرنيو هيوادونو ته تښتيدلو پرچميانو په راس کې کارمل وټاکه اوپه افغانستان کې يې پرچمی اجنټ ظهور رزمجو چې دروسانو په واسطه سره دافغانستان دنظامي اشغال ځخه وروسته دکابل ښار ګوندي کميټې دمنشی په حيث وټاکل شو دپرچميانو په راس کې تعين کړ.

روسانو له امين سره ديو شمير نويو محاربوي ماشينونو (ټانکونو) قرار داد لاسليك کړاوروسانو داپرځان ورته ومنله چې نوموړي ټانکونه به دکابل په هوايي ډګر کې دامين رژيم ته سپاري.

ددغو ټانکونو انتقال يې د۱۳۵۸ کال دجدي په دريمه نيټه دځلور ماشينه نظامي باروړونکو روسي الوتکو په واسطه دروس ځخه کابل ته پيل کړ خو دکابل په هوايي ډګر کې دنوموړو ټانکونو ساتنه ترهغو پورې روسانو په غاړه اخستی وه ترڅو چې يې دامين رژيم ته په رسمي ډول سره نه وي تسليم کړي دټانکونو راوړل دشپې او ورځې لخوا په دوامدار ډول سره جريان درلود اودجدي ترشپږم ماښام پورې يوه دقيقه هم داسې تيره نه شوه چې دکابل په فضا کې به ددريو ځخه تر پنځو پورې ذکر شوی الوتکې ونه ليدل شوې دټانکونو په منځ کې هغه روسي عسکر ځای په ځای شوي ووچې په مخصوص ډول سره نظامي ښوونه او روزنه ورکړل شوي وه او ترهغو پورې يې دګټې ګوټې اودټانکونو ځخه په زيات شمير راوتلو ځخه مخ نيوی وکړترڅو چې يې دامين په پلوی قواؤ اواستوګنځی باندې وسله وال بريد اويرغل نه ؤ پيل کړی اما يوشمير پرچميانو اونورو مختلفو اشخاصو داهم تبليغوله چې امين پخپله دروسانو په مشاوره سره دروس ځخه ديوه وسله وال کندك غوښتنه کړې وه ترڅودخطر په وخت کې دامين رژيم ځخه دفاع وکړي اما روسانو ددې موقع ځخه ګټه واخستله اونوره اضافي قوه يې رانقل کړه.

«کی، جی، بی» په افغانستان کې دروسانو دنظامي تيرې ځخه څو ورځې مخکې په دوامداره توګه په افغانستان کې دخپل سفارت له لارې ټول امکانات هځی اوتلاشونه په لاګړندي ډول سره په کارواچول ترڅو چې په امين باندې نشايې موادو خوري اويا په کومه بله طريقه سره يې ونيسي اودې ته يې مجبور کړي چې افغانستان ته دروسيي نظامي قواؤ راتګ اودګوندي اودولتي چارو ځخه استعفا پخپله دراديو او تلويزيون ځخه اعلان کړي اوداسې تاکيد وکړي چې داهرڅه دده (امين) اودده دررژيم په خوښه ترسره شويدي.

خودامين زرنګي اوتاکتيك نسبتاً پياوړی ؤ اوکی، جی، بی دټولو هلو ځلوسره سره دا امکان ترلاسه نکړ چې امين ترخپلې ارادې لاندې راولي خوحيواني لګته دروسانو پرې قوي شوله.

کی، جی، بی په کابل کې پرچميانو ته دستور ورکړ چې يو سياسی مانور اجرا کړي نو د۱۳۵۸ هـ ش کال دجدي دشپږمې نيټې ځخه څو ورځې مخکې نسبتاً زيات شمير پرچميان دورځې له خواپه ډله ائيزه توګه دکابل پوهنتون په ساحه کې سره راټول اوبيا بيرته زرتيت شول.

دجهاد فلسفه...

دخدای (ج) اودهغه رسول (ص) دخوښې کوښښ کوونکی وی نه دنور څه، داسلام په سپيڅلی عقيده کی بايد دومره رسا اوبيا عزم وی چی دی مرتبی ته رسيدلی وی اويا ورته درسيدلو هڅه وکړی چی دسر دبايللو ځای اوبدله وپيژنی اوهم دسر دقربانولو، دتوري، توپك داستعمالولو اساسی هدف پيداکړی اوبيا استراتيژيك هدف ته قدم په قدم درسيدلو لپاره دټولو امکاناتو ځخه په لازم ډول استفاده وکړی.

ترڅو هدف ته ورسيږی.

نوربيا

په دبرېنو، ګړنګونو...

تيره کړو خو زموږ په اوږو دومره درانده غمونه وو چی داختر په خوښيو کی لاهوکيوال يی په لمدو سترګو دکلی په لوری ستانه کړل.

موږ پرمخ روان وو دغم درانه بارونه موږ پر اوږو او ستړی ستړی ګامونه مو په کړه وږه لاره اخستل، موږ داختر په خوشحاليو کی ډوبی دری ته دغمونو له بارونو سره ورننوتلو اوکلی پر کلی موله خلکو نه خوشحالي وتښتولی، کوږه کور موږه اختر مبارکی کی ويراوژړا وويشله خوزموږ دغم درانه بارونه سپك نه شول، زموږ ستړی ګامونه لاهم ستړی کيدل زموږ خوبوری سترګی لاهم له خوبه ډکيدی اوشيبه په شيبه مو دزړونو سيك خوت خو بياهم مجبور وو چی پرمخ ولاړشو، په نورو کليو هم غمونه وويشو، داختر خوشحالی وتښتوو اوپه ځوانو هوسونو خاوری واړوو، ډير کسان زمورمځی ته په خندا راووتل خوپه ژړا بيرته ستانه شول بياهم زموږ پر اوږو دغم بارونه وو اوبيا يو داسی کلی هم راغی چی موږ له غمونو سره په دوو برخو وويشل شوو بيلو بيلو دروته ننوتلو چی بالاخره په دوو کليو کی ددوو کورونو په مخه کی زموږ له اوږو نه دغم اوماتم بارونه کوز شول.

اوچی کله موږ اووی سپکی شوی ماته دتيری ورځی کيسه تړله سترګو ته ودريده خرخرګړنګونه لاندی دښامار په ځير غزيدلی سرك اوپرسرك هيبتناك پولادی پيلان چی سری لمبی يی ترخولی وتلی، دتوپونو اوټانکونو ډنډوکار اوکړسهار چی په ډبرينو ګړنګونو کی يی هيبتناك انعکاس خوراوه اوبيا له ښی پخی مقديمی وروسته دوه تنه ځوانان چی دشهادت په خوب ويده وو دتيری ورځی پيښی زد زر ما دذهن له پردی نه تيری راتيری شوی خو خدای(ج) خبردی چی ترکومه ځايه به می رارسولی وی چی نورپه درانه خوب ويده شوی وم، بيامی ديوه اشنا غږ ترغوږ شو چی ويل يی:

پورته شه چی هديری ته ځو، اوچی سترګی می وغړولی درحيم الله جنازه دهديری په لوری په اوږو شوی وه اوموږ هم په ستړيو ستړيو ګامونو دهديری لاره ونيوه.

موږ په افغانستان کې د روسي نمايندګان ...

ځواب : دافغانستان دقضيې دحل لپاره دواړه لاري موجودي دي دپيغمبر ص ارشادات دي چي تاسويه ترهغه وخته جهاد کوی څوپوری چی فتنه اوکفر ورك شوی نه وی . الله تعالی (ج) فرمايلی دی چی تاسويه جنګ کوی دکفارو په مقابل کی ترهغه پوری چی دين ټول يو دالله (ج) لپاره شی لکه دپيغمبر ص اونورو پيغمبرانو عليهم الصلوة والسلام داقانون وُچی په کوم ځای کی دکفارو سره مقابله شوی ده يابه ټول تسليميدل اويابه يی قتلول يعنی يابه اسلام راوړی اويابه قتل کيږی. موږ دافغانستان جهاد هم دهمدی لپاره شروع کړی دی چی هلته کفری قوانين جاری شول دظاهرشاه په وخت کی مسلمانانو دکفری قوانينو په مقابل کی مظاهری وکړی خوظاهرشاه په هغه کی غفلت وکړهماغه وُ چی داود دغه کفری قوانين منځته راوړل اودظاهرشاه په موافقې اوشراکت سره يی واکی ونيولی نودظاهرشاه داود اوتره کی څخه نيولی ترهغه پوری چی کفری نظام چليږی زموږ داجهاد به روان وی او زموږ اساسی اواسلامی لاره هم همدغه ده

بل‌هغه لاره چی نړی يې دسياسی حل په نامه بولی که چيری داحل پدی شکل وی څرنګه چی افغانستان اسلامی مملکت وُ اوخلك يی مسلمانان دی اسلامی قوانين غواړی ، کمونستی نظامونه دی ختم شی اواسلامی حکومت دی دمجاهدينو په لاس جوړشی . نودسياسی لاری حل منل کيږی چی دمجاهدينو حکومت قايم شی اوپه دنيا کی په رسميت وپيژندل شی ، کمونستان له منځه ووځی اومجاهدين خپله په خپل لاس حکومت جوړکړی اوکه مقصد داوی چی کافر به هم موجودوی کمونستان اومسلمانان به هم وی اوائتلافی حکومت به جوړوی داهيڅکله نه شی کيدای ځکه

چی کفر اواسلام يوځای نه شی جوړيدای دعقايدو مسله ده چی دکفر اواسلام په منځ کی داسی رتبه نه شته چی هم کفر وی اوهم اسلام ، يابه کفروی اويااسلام ، داسی هم نه شی کيدای چی نه کفروی نه اسلام ، نو څرنګه چی په افغانستان کی اسلامی مبارزه شروع ده کفرهيڅکله منلای نه شی.

نوځرګنده شوه چی ائتلافی حکومت جوړيدل هيڅ امکان نلری که ټوله نړی له مزدوری کمونستی دلی سره ودريږی خوبيابه هم زموږ جهاد پرمخ ځی ترهغه وخته چی څوافغانستان وی اوهمدامسلمان افغانان وی داجهاد به روان وی.

ځلی کوی اوداکوششونه هم روان دی چی جهادی مشران سره متحد شی اودافغانستان داسلامی حکومت لپاره زعيم وټاکی کله چی داکوششونه کاميابه شول نودداسی خلکو مخه به هم ونيول شی . که چيری دمشرانو ترمنځ دااختلافات دوام وکړی داحالات حتماً راتلونکی دی .

دغه خپل سری دلی دکمونستانو له خوا ګمارل

> امريکا اومسکو وايي موږخپله وسله په مجاهدو اوګوډاګي رژيم باندي بندو خومسکو چي مخکي يي ۱۰۰ الوتکي نقلولي لدي قراردادنه وروسته ۲۰۰ الوتکي رانقلوي خودمخنيوي لپاره يي هيڅوك اقدام نه کوي

پوښتنه : محترم مولوی صاحب په پيښور کی ديو شمير مجهول الهويه اشخاصوله خوا دمهاجرينو دحقوقو ددفاع په نامه يوسازمان جوړشوی دی اوداسی ويل کيږی چی دغه سازمان دملګرو ملتونو اودظاهرشاه ترحمايی لاندی فعاليت کوی ايا دداوړ سازمانونو جوړيدل دجهادی تنظيمونو ستره خاليګاه نه ده ؟

ځواب : زماپه نظر دداسی سازمانونو جوړيدل داسلامی اصولو سره برابرندی اودمجاهدينو دپاليسی نه خلاف دی شايد چی ځينو تنظيمونو ددی کار دمخنيوی په خاطر يوڅه فعاليت کړی وی خودپاکستان دحکومت په موافقې سره چی اوس غواړی دکمونستانو سره هم خبری وکړی غرب ته تښتيدلو تش په نامه افغانانو سره هم غږيږی چی دغه ورفعاليتونه دمجاهدينو دبی اتفاقی اوبی نظمی څخه راولاړشوی دی اوس دجهادی تنظيمونو قوماندانان چی دافغانستان دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شورا په نامه سره راټول شوی دی هڅه کوی چی دافغانستان ملت رهبری به ددوی دپريکړی په اساس ټاکل کيږی. بهرنی مرستی، دمهاجرينو پالنه اوپه داخل کی دابادولو پروګرامونه به ددوی له خوا وضع اوسرته رسيږی ځکه چی پدی شوراکی دټولو تنظيمونو قوماندانان ګډون لری يواځی دانجينر حکمتيار صاحب دتنظيم قوماندانان تراوسه پوری ګوښه دی خوداشورا دافغانستان دسرنوشت ټاکنی لپاره هلی

کيږی کله دمهاجرينو دغم خوړلو په نامه، کله دظاهرشاه دراوستولپاره ، کله دقبايلی خلکو درابلنی په بنه سره راټوليږی ځکه موږ فيصله کړيده چی بی له دغو اوو تنظيمونو څخه بله دله دفعاليت حق نلری اوبايد کوشش وکړو چی سره متحد شو که چيری دتنظيمونو ترمنځ اتحاد رانه شی دجهادی تنظيمونو څخه جوړه شوی دقوماندانانو شورابايد سره متحد وی ، خپل منځی برخوردونو ته اجازه ورنکړی دجهاد سوق اواداره په منظمه توګه پرمخ بوځی دمزدور رژيم پرضد جګړه لاپسی تونده کړی ځکه چی داشورادجهادی تنظيمونو دتقويی لپاره جوړه شوی ده دجهاد دپرمختګ اودافغانستان دسرنوشت لپاره جوړه شوی اوبالاخره دکمونستانو دمخنيوی لپاره ده چی ترهغه به کمونستان په افغانستان کی نه پريږدی څوتسليم شوی نه وی اوتوبه يی نه وی ايستلی.

په بين الملل کی داسی سياست روان دی چی نه په بين المللی چوکاټ کی راځی اوپه اسلامی کی خوهسی هم نه راځی که يو مملکت په بل مملکت تعرض کوی دهغی پوښتنه نه کيږی امريکا او مسکو وايی موږخپله وسله په مجاهدو او ګوډاګی رژيم باندی بندوو خومسکو په هماغه ورځ چی مخکی يی ۱۰۰ الوتکی نقلولی لدی قرارداد نه وروسته ۲۰۰ الوتکی رانقلوی خودمخنيوی لپاره يی هيڅوك اقدام نه کوی .

اوس په نړی کی داسی خبری روانی دی چی نجيب سوله غواړی بايد پدی وغږيږو اومهاجربی ځايه پراته دی اوددوی غم وخوړل شی زماپه نظر که څوك دمهاجر غم خوری بايد دتنظيمونو له لاری مرسته ورسره وکړی .

پوښتنه : په پای کی مجاهدينو ، مهاجرينو او انصارو وروڼو ته څه ويل غواړی مهربانی وکړی

ځواب : زما پيغام مجاهدينو ، مهاجرينو اوانصارو وروڼو ته دادی چی افغانستان ، پاکستان، ايران اونور اسلامی مملکتونه بايد دزړه په اخلاص سره متحد او متفق شی ځکه پيغمبر (ص) فرمايی چی مسلمانان ټول مثال ديوه بنيان اوبوی کلالری اويو دبل خښته دی که يوه خښته له ديوال څخه وباسی ديوال ړنګيږی اوديوال محکمتيادخښتو سره ده نوکه هره خښته په خپل ځای کی لګيدلی وی اوسره يوځای وی نودوی به کامياب وی اوددښمنانو دتعرض نه به په امن کی وی اوقوت به يی جمع وی . بل داچی پيغمبر (ص) فرمايی چی يو مسلمان دبل مسلمان لکه اندام اوغړی دی نوچی يو اندام په درد شی ټول اندامونه ورسره ناکراره وی اوددی په لټه کی وی چی دهغه اندام علاج وشی چی دهمدی علاج سره به نوراندامونه هم کراريږی نوبايد چی ټول مسلمانان که انصاروی که مهاجر اوکه مجاهد سره متحد شی اوکه په چاباندی تکليف وی په ګډه سره دهغه تکليف رفع کړی .

زموږ دمسلمانانو اتحاد اواتفاق په اسلامی اصولو ولاړدی نومجاهدين بايد چی جهاد په اسلامی اصولو سره وکړی دخپل آمر اطاعت ولری ، دکفارو نه تيښته ونکړی اودهغوی په مقابل کی کلك ودريږی ترهغه وخته چی څوژوندی وی اويايی کفارو څخه دمسلمانانو سيمی ازادی کړی وی اويا شهيد شوی نه وی .

انصارو ته لازمه ده چی څومره توان اودارايی لری کوښښ وکړی چی خپل مال پری مصرف کړی اوپه خپله په جهاد کی شرکت وکړی اوس هم په انصارو کی ډيرخلك له موږ سره مجاهدين دی اوجهاد کوی

> **مجاهدينو خپل اکمالات اوانتقالات کړيدي هغوي په ګرديز باندي خپلو عملياتو ته دوام ورکوي چي کابل رژيم دهمدي وارخطايي له امله هره ورځ بمباري کوي اوسکه توغندي واروي**

اوچی کوم يوپه جهاد کی برخه نه اخلی هغه تش په نوم انصار دی ځينی يی دمجاهدو په مقابل کی ولاړ وی چی داکار دوی ته ډير تاوان رسوی ځکه چی انګريز سره ټولو مسلمانانو مقابله کړيده اومخکی دانګريزانو چی کوم کفارپدی سيمه کی وُ ټول مسلمانان دهغوی په مقابل کی سره متفق دريدلی دی نن دکفارو ددسيسی له کبله مسلمانان دربدره شوی دی يو ځان په انګريز پوری وتړی بل په امريکی اوبل بيا په چين اومسکوپوری ځانونه تړی لکه نن چی په ترکيه کی له

> که نشريات نه واي نوقران عظيم الشان اواحاديث به موږته نه واي رارسيدلي،فقه به موږته نه واي پاتي شوي له همدي کبله علماو ډيرتصنيفونه کړي،ليکني يي کړي اوموږدهمدغو ليکنو څخه ګټه اخلو اودنيا ته يي فايده رسولي

کردیانو سره مقابله روانه ده ځکه چی په منځ کی يی اسلامی اصول نه شته ، دعراق سره دکويټ جګړه راغله ځکه چی ددوی ترمنځ اسلامی اصول نشته اوکه په اسلامی اصولو سمبال وای داجګړی نه پيښيدی فلسطينيانه‌په خپلومنځو کی هم جګړی کوی اوداسرائيلو په مقابل کی هم ناکام شول ځکه چی په اسلامی اصولو نه دی ولاړ ، نوبايد مهاجراوانصارزموږ داتوصيه ومنی چی داسلامی اصولو پابند واوسی اودعلماو نه پوښتنی وکړی اودقران عظيم الشان دهدایاتو سره سم په اسلامی اصولو باندی عمل وکړی حنيفی فقه ، شافعی فقه ، امام احمد حنبل (رح)فقه داټولی موجودی دی احاديث اوايات موجوددی نوبايد مجاهدين اوانصار لومړی په دين باندی ځان پوه کړی اوپه دين عمل وکړی اوخپل سراومال ددين په لار کی ورکړی نوانشاالله ټول به کامياب يو .

خبريال : محترم مولوی صاحب نظام الدين حقانی داچی تاسو سره له ډيرو مصروفيتونو حاضرشوی او زموږ دجهاد هنداری درنو لوستونکو ته مو معلومات وراندی کړل ډيره مننه کوو الله تعالی دی تاسو پخپلو سپيڅلو دندو کی بريالی اوسرلوړی لری .

مولوی صاحب نظام الدين حقانی : خدای (ج) دی تاسو ته هم اجرونه درکړی جهادی نشريات هم يونوع جهاد دی ځکه چی په ژبه اوقلم هم جهاد کيږی خلکو ته لدی لاری پيغام رسول اوپه کتابت سره دخلکو ذهنونه روښانول هم جهاد دی .

دپيغمبر (ص) په وخت کی لومړی کتابت ته اجازه نه وه ورکړل شوی اوټول پيغامونه به يادداشت کيدل اوخلکو ته به رسيدل خو وروسته زموږ پيغمبر (ص) ليکنی ته اجازه ورکړه چی ټول پيغامونه به دليکنی له لاری خلکو ته رسيدل اوهم قران عظيم الشان سره راټول شو نودانشريات زموږ يوه اسلامی طريقه ده ځکه که نشريات نه وای نو قران عظيم الشان اواحاديث به موږ ته نه وای رسيدلی ،

فقه به موږ ته نه وای پاته شوی له همدی کبله علماو ډير تصنيفونه کړی ليکنی يی کړی او موږ دهمدغو ليکنو څخه ګټه اخلو اودنيا ته يی فايده رسولی .

ستاسو نشريات هم دمسلمانانو اومجاهدينو لپاره پيغام رسوی اوالله (ج) به ددی کوښښونو په مقابل کی تاسو ته اجرونه درکړی .

واخردعوانا ان الحمدلله

درا ثر عملیات مجاهدین درسالنگ جنوبی وجبل السراج

۱۱ عراده تانك و۱۲ پوسته رژیم ازبین رفت

دفتررسانه های خبری شورای سرتاسری قوماندانان جهادی به اساس گزارش مخابروی احمد شاه مسعود به خبرنگار جهاد هنداره اطلاع داده است که مجاهدین مراکز عمده غند های ٦٤ و ٦٦ نظامی رژیم رابتاریخ ۲۰ سرطان درجبل السراج کاملا تخریب وباخساره مند ساخته اند .

درگزارش امده است که مجاهدین با انداخت سلاح دور برد خویش یك دیپوی بزرگ سلاح ومهمات نظامی رژیم مزدور را درغند ٦٦ منفجر نمودند که دوپایگاه انداخت بی ام ، ۱۲ نیز به اتش کشانیده شد .

همچنان مجاهدین طی عملیاتیکه از ۱۹ سرطان اغاز نموده اند بیش از ۱۲ پوسته رژیم راتخریب نموده اند ، درطول نبرد های رویاروی مجاهدین باقوای دشمن که اکثرا درنواحی پشته سرخ ، جبل السراج ، والوان ، باغ میدان ، کوکلایی ، دره اولنگ قلاتك ، وپل متك روی داده است بیش از ۱۱عراده تانك دشمن هدف راکتهای مجاهدین قرار گرفته ازبین رفت و ۲۲ عراده لاری حامل مهمات نظامی دشمن به اتش کشیده شد .

گزارش می افزاید طی این عملیات درحدود ۱۵۰ نفر عسکر وصاحب منصب کشته ویازخمی شده اند همزمان باعملیات مجاهدین حملات شدید هوایی برمواضع واستحکامات مجاهدین اغاز یافته که اکثرا مناطق ومنازل مسکونی درسالنگ جنوبی وجبل السراج ازبین رفته وچند تن اززنان ، کودکان وریش سفیدان شهید ویازخمی شده اند .

گزارش دراخیر علاوه نموده است که عملیات مجاهدین وبمباردمان هوایی رژیم مزدور درمناطق فوق همچنان ادامه دارد .

دوردگو اومیدان په ولایت کې ...

سره درژیم هغه قواو چی غوښتل یی دمجاهدینو په مرکزونو تعرضی عملیات ترسره کړی دخپلو درندو وسلو دبرید لاندی ونیول چی په نتیجه کی ٥۱ تنه ملیشه پکی مړه شویدی .

دخبر مطابق په دغه جګړه کی دمجاهدینو څخه څلور تنه شهیدان اودوه تنه ټپیان شوی .

همدغه راز په میدان ښار سفیدخاك ، ده افغانانو اونورو شاوخوا سیمو کی دمجاهدینو اودرژیم دقواو ترمنځ دسرطان د۱۷ نیتی جګړی کی مجاهدینو دراکټونو ږزو سره دکمونستی رژیم دقواو څخه یو ټانك داور لمبه کړی او ۷ تنه عسکریی وژلی دی .

دخبر له مخی جګړه ددواړو خواو ترمنځ په سختی سره دوام لری .

حساس شیبې

امیدونه ، ګواښونه او ...

هغه کوی ترڅو په افغانستان کی دیواسلامی حکومت دجوړیدو مخه ونیسی ، له بلی خوا زموږ دجهادی مشرانو ترمنځ دوحدت نشتوالی مسله تریخوا دزیات تشویش وړحالت ته رسیدلی اوداسی ښه یی غوره کړی چی نظرونه اودریځونه یی سره مخالف اودروانی نامطلوبی وضعی څخه دجهادی ځواکونو درایستلو اودرکود اوسکوت دحالت دماتولو لپاره یو ګړ تفاهم اوپرهغی دغورکولو لپاره یو ځای کښیناستلو ته هم نه حاضریږی .

نودتولو جهادی مشرانو ،علماو ، قوماندانانو ، مشرانو اوبادیانته سیاست پوهانو نه زموږ دمجاهد ملت تقاضا اودحالاتوغوښتنه داده چی دجهادی ځواکونو دمتحد کولو لپاره نه ستړی کیدونکی هلی ځلی وکړی اوپه موجوده جهادی قیادتونو له هری لاری چی ممکن وی فشار راوړی چی دلوی خدای (ج) درضا اوزموږ دملیونو شهیدانو دپاکو وینو اوسپیڅلی ارمان په خاطر سره متحد او له خپل منځ څخه یو واحد سیاسی قیادت وټاکی ، خپل منځی اختلافات لری کړی اوپه دی حساسو شیبو کی زموږاسلامی انقلاب له هری خوا دګواښونو اودښمنانو توطیو اودسیسو سره مخامخ دی وژغوری اوسرمنزل ته یی ورسوی .

ومن الله التوفیق

دفاریاب په ولایت کې دمجاهدینو بریالي بریدونه

فاریاب ، میدیا

په پیښور کی دفاریاب ولایت یو خبر ځای دیوه راپیویی پیغام په حواله رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دمیمنی ښارپه لمر ختیځه دشرین تګاب ولسوالی اولقمان سیمی په پوستو باندی دسرطان په ۱۲ مه یولړپراخ تعرضی بریدونه پیل کړل ، چی په نتیجه کی درژیم ستراتیژیکی پوستی فتح او ۱۷ تنه عسکراوملیشه اوصاحب منصبان پکی وژل شوی اویو شمیر نور ژوبل شوی دی .

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو دوه میله زیکویك ، ۹۰ میله کلاشینکوفونه دیوشمیر مهماتو سره ولجه کړی اودری ملیشه یی اسیر نیولی دی رپوټ وایی پدی سیمه کی جګړه روانه ده .

دیوه بل رپوټ له مخی ویل شوی چی مجاهدینو دسرطان دمیاشتی په ۱۳ مه نیټه شرین تګاب ولسوالی دفیض اباد په سیمه کی درسول پهلوان دملیشه و په سیاسی زندان باندی دپرلپسی بریدونو په نتیجه کی زندان دړی وړی کړ اودمجاهدینو قوماندان حاجی ادام یی دیوشمیر زیاتو سیاسی بندیانو سره ازاد کړ .

دیادونی وړده چی قوماندان حاجی ادام یونیم کال دمخه دفاریاب ولایت په دشت لیلی کی درژیم دقواو سره په یومخامخ جګړه کی نیول شوی ؤ مجاهدینو په دغه برید کي درسول پهلوان دملیشو څخه ۱۷ تنه وژلی اویو شمیر نور یی ټپیان کړی اوپاتویی تیښته کړی ده همدارنګه ددی ولایت څخه دیوه بل رپوټ په اساس ویل شوی چی :

درسول پهلوان په مشری درژیم ملیشه دسرطان دمیاشتی په ۱٦ مه نیټه دفاریاب ولایت دپښتونکوټ ولسوالی دشباختوپه سیمه کی دمجاهدینو په مرکزونو پراخ تعرضی برید پیل کړ جی دمجاهدینو ددوه ورځو پرله پسی مقابل په نتیجه کی په شاوتمبول شوی ۳۰ عسکراوملیشه پکی وژل شوی او۲۱ تنه نور ټپیان شوی دی دوه مهمات وړونکی لاری له منځه تللی او ۱۵۰ میله درنده اوسپکه وسله ولجه نیول شوی .

په هرات کی ددښمن قواووته...

دهرات څخه دیوه بل خبرله مخی ویل شوی چی دمجاهدینو دسرطان په ۱۵ مه نیټه دهرات ولایت دزنده جان په ولسوالی کی ددښمن پرمرکزونو ددرندو وسلو څخه په استفادی سره یو لړبریالی عملیات ترسره کړل چی دهغی په نتیجه کی دکابل رژیم دوه عرادی پوځی لاری سوزول شوی ۲۵ تنه عسکر اوملیشه مړه اویو شمیر نور یی ټپیان شویدی .

دخبرځای دریوټ له مخی مجاهدینو په یو بل برید کی ددغی ولسوالی دمحل خواجه په سیمه کی درژیم دقواو نه دری تنه عسکروژلی اودری نور یی ټپیان کړیدی .

همدارنګه دنوموړی ولسوالی دقلعه نو په سیمه کی دمجاهدینو دیوځای پرځای شوی ماین دچاودیدوله امله ددښمن دری تنه عسکرمړه او دوه تنه نور یی ټپیان شویدی .

نگرشی کوتاه بر ...

از۳۰۰ تن از هموطنان بی گناه ما توسط فیر راکت دوربرد «سکد » درشهر اسعد اباد مرکز ولایت ازاد شده کنرنبودند ، ایا این عمل رانمی توان بحیث زیرپاه نهادن مسلم حقوق بشرازجانب رژیم کابل دانست ؟ ایا بمباردمان وحشیانه که باعث تخریب هزاران باب منزل مسکونی اهالی ، وباعث ازبین رفتن هزاران هکتار زمین حاصل خیز زراعتی و سوختن صد ها خرمن اماده حاصل که درطول یك ماه گذشته درصفحات شمال کشور بخصوص ولایات تخار و کندز گردیده نمی تواند بحیث نمونه از جنایت ووحشی گری رژیم کابل موردبحث قرار گیرد ؟

فیر راکت های دوربرد سکد اوراگان لوناو ... ازجانب همین رژیم برمناطق ازاد وتحت کنترول مجاهدین دولایات مختلف نمیتواند دلیلی برای زیرپاشدن حقوق بشراز جانب رژیم کابل تلقی شود ؟

یقیناً که همه این جنایات ووحشی گری ها تخطی های اشکار از مفادات اعلامیه جهانی حقوق بشربوده ، وموازی باهیچ قانون صلح جویانه بین المللی نمی باشد ، ولی ما تعجب می کنیم که سازمان عفو بین المللی که شعاران دفاع ازحقوق بشردرسراسر جهان است درگزارش سالانه خویش هیچ گونه اشاره به انها ندارد ، اما درمقابل از قتل ۷ نفرکه (انهم خود گزارش اعتراف بر جاسوس ودولتی بودن انها دارد) دردومنطقه ازاد مجاهدین باآب وتاب یاداوری می نماید ، وادعا دارد که مجاهدین درمناطق تحت کنترول خویش افراد مشکوك رامحبوس ومورد ازار وشکنجه قرار می دهند. جنایات و زیر پاگذاشتن همه موازین حقوق بشر درطول ۱۳ سال گذشته ازجانب رژیم مزدور کابل ، باپشتیبانی صریح واشکار روسیه جنایتکار امروز ازنظر هیچ فرد بااحساس جهان بشریت پنهان نیست ، ونه می شود ازان انکار کرد ، ولی جای بسا افسوس است سازمانی که دفاع ازحقوق بشررابحیث اولین ومهمترین شعار خویش قرار می دهد ، بانکر شمهٔ محدودی ازان ومحکوم کردن طرف مقابل ان (مجاهدین) به زیر پاگذاشتن حقوق بشری ، خواسته وناخواسته پرده برجنایات نابخشودنی این جنایتکاران می اندازد .

درقسمتی ازگزارش سازمان عفو بین المللی گفته شده که بنابر ادامه جنگ وخونریزی درافغانستان نه توانسته اند اطلاعات دیگری درمورد ابعاد تخطی ازحقوق بشردران سرزمین رابدست بیاورند واین درحالیست که مجاهدین مومن ما ، طی کنفرانس ها واعلامیه های متعددی بارها ودرموارد مختلف ازمجامع بین المللی وسازمان های جهانی دعوت نموده اند ، تابیایند ودرمناطق ازاد شده شاهد جنایات ووحشی گری های رژیم جنایت کار ومزدور کابل باشند !

چنانچه می توان گفتار « الحاج مولانا حقانی » راطی کنفرانس مطبوعاتی درشهر میرامشاه بعد از فتح تاریخی خوست که به اشتراك ده ها تن ازخبرنگاران اژانس هاووسایل ارتباط عامه بین المللی دایر گردیده بود شاهدی بر این مدعا دانست . الحاج حقانی درکنفرانس منکور گفتند « رژیم نجیب درطول جنگ مرتکب اعمال شرم اور وغیرانسانی گردیده است ، مابه نمایندگان سازمان های بین المللی دعوت می دهیم تابیایند واعمال غیرانسانی رژیم نجیب راازنزدیك مشاهده نمایند نجیب اطفال خوردسال رابازورو جبربه خدمت عسکری گماشته است ، انها رابه‌جبهات جنگ اعزام می کند ، وبعد از فتح خوست ، سلسله بمباردمان هوایی وفیر راکت های سکاد را اغاز کرد... باید نمایندگان سازمان های بین المللی به این منطقه بیایند اعمال رژیم نجیب راازنزدیك مشاهده نموده ، مانع اعمال ضد انسانی وضد اسلامی نجیب گردند »همچنان نمایندگان سازمان صلیب سرخ جهانی بعد ازفتح خوست باااسرای جنگی رژیم مزدور که درجریان جنگ خوست بدست مجاهدین مومن ما افتیده بودند ملاقات کردند ، روش وبرخورد بشردوستانه مجاهدین باانها را تأیید وازان اظهار قدردانی نمودند که می توان انرا بحیث مثالی ازمراعات حقوق انسانی ازجانب مجاهدین مسلمان افغانستان برشمریم .

باین همه دست اندرکاران محترم سازمان عفو بین المللی به بهانه جنگ وقتال ! ازهمه جنایات تاریخی ونابخشودنی رژیم کابل چشم پوشی می نمایند ! که به هیچ وجه شایسته وزیبنده یك سازمان بین المللی نبوده ولطمه بزرگی به حیثیت بین المللی ان وارد می سازد !

امید واریم گزارش های اینده این سازمان استوار برحقیقت وهمه گیرباشند تابه این ترتیب وظیفه انسانی خویش رادرمقابل هزار ها تن از هموطنان مظلوم ما که قربانی جنایات ووحشی گری های مکتب خونخوار کمونیزم شده اند ، انجام دهند ! والسلام

حساسي شيبې
اميدونه ، ګوابونه او ...

لاسپوڅي رژيم دبقا لپاره نيرغلګرو روسانو دمستقيم تيري اوښکندي مداخلي اوهغې په وړاندي دمجاهدو افغانانو داتلوالي مقابلي اوبيا وريسې دروسانو دشرميدلي ماتي اوتيښتي په بهير کې زموږ اسلامي انقلاب بيلابيل پړاوونه ووهل او چې نوروستي بري په درشل کې واقع شو نوپرخلاف يې دشرق ،غرب اوداسلام اوافغانستان دټولو دښمنانو په شمول توطيې اوسازشونه پيل شول ترڅوکوالی شي په دغه وسيله زموږپه هيواد کې دمجاهدينو په لاس ديو اسلامي حکومت دجوړيدو مخه ونيسي .

دروسانو تر تښتيدلو وروسته چې دهغې لاسپوڅي اومزدور رژيم دهير ژر رانسکوريدو په حال کې و دهيواد په کوټ کوټ کې پرملحد دښمن باندي دمجاهدينو دفتحي اوبري اوازي خپري او مسلمان ملت دخپل اسلامي پاخون بري ته سترګي په لار و اوهدي ترڅنګ يې دسرنوشت ټاکني حساس پړاو اوشيبې په رارسيدو وې ، خوپه همدغسي حساسو شيبو کې له يوه پلوه زموږ دجهادي قيادتونو خپل منځي اختلافونو اوغفلتونو اوله بل پلوه داسلام ددښمنانو ګډو سازشونو زموږ دبري په وړاندي خنډونه اوځنډونه رامخې ته کړل .

په سياسي ډګر کې جهادي قيادتونه چې دمجاهدينو دعبوري حکومت په نوم په يو سياسي تشکيلاتي اواداري ارګان کې سره په نسبي متحده بڼه سره راټول شوي وو په جلا وطني کې دوزارتونو اومجللو دفترونو په جوړولو بوخت اوجهادي سنګرونه اومرکزونه تري ورو ورو مخ په هيريدو شول ددې ترڅنګ بوخوا دروسانو ترتښتيدلو وروسته له مجاهدينو سره په مرسته کې څوچنده کموالي راغی اوپلي خواته که دځينو اسلامي هيوادونو اونړيوالو خيريه مرستنديه موسسو له خوا څه ناڅه مرسته کيدله هغه دوزارت خانو په رياستونو اودفترونو کې بې ځايه مصرفيدله اوهلته دسنګر مجاهدينو وسله اومهمات خو په ځای پريږده چې اومړني غذايي مواد يې هم دير په مشکله ترلاسه کولای شول ، همدغي وضعي دجهادپه نظامي ډګرداسي ناوړه اغيزه وکړه چې په جهادي سنګرونو کې نسبي رکود اوسکوت رامنځ ته شو اودغسي يې زموږ دمجاهد ملت په فضا دمايوسي اونهيلي لړی خپري اودمجاهدينو ، مهاجرينواحساسات يې وزمولل او ورسره ورسره زموږ دکټلي جنګ دبايلني ويره رامنځ ته شوه .

عبوري حکومت دجهادي قيادتونو ترمنځ دراولاپوشوپو اختلافاتو له امله په سياسي ډګر کې دمجاهدينو سمه اوځواکمنه نمايندګي ونه کړای شوه ، ورځ په ورځ کمزوری کيده اوپې نظمي اوګډوډي پکې راتلله اوخبره دې حد ته ورسيده چې دکابيني غړيو يې يو په بل پسې ځان له حکومت نه ګوښه کړاو،حکومت په کمزورتيا اودهغه دواکمنو دمسووليت دنه احساس په مسله يې اعتراف وکړ. دې مسلې په سياسي ډګر کې دمجاهدينو حيثيت اواعتبار ته سخته صدمه ورسوله .

خوجهاد په نظامي ډګر کې وضع همداسي درکود اوسکوت په حال کې پاتې نشوه دجهاد دسنګرونو يوشمير اتلو قوماندانانو دالحاج مولانا جلال الدين حقاني په مشرۍ دقوماندانانو دسرتاسري شورا دجوړولو اوتشکيلولو تکل وکړ ، ترڅو چې دجهاد قوماندانان سره راټول اوجهاد په پوځي ډګر کې يو متحده اومنظمه ستراتيژي وټاکي ، دجهاد موجوده وضعه وڅيړي اوستونزو دحل لاری په ګوته کړي اوپردښمن باندي دمتحدو اوهماهنګو عملياتو پروګرامونه طرحه اوپه عمل کې پلي کړي .

دقوماندانانو دشورا په جوړيدو اودهغه دپرله پسې غونډو په نتيجه کې ددې زمينه مساعده شوه چې دجهاد په نظامي ډګر کې راپيداشوی نسبي سکوت اورکود مات شي .

دهمدغو هماهنګو اومتحدو عملياتو له برکته خوست چې دښمن ته لوړ ستراتيژيک ارزښت درلود فتحه شو وريسې دهيواد په شمال کې مجاهدينو ستري بريې وکړې اودغسې دهيواد په لويديځ سيمو کې دمجاهدينو بريالیتوبونه دپاملرني اوستاينې وړدي .

دلته ددې خبري يادونه ضروري ده چې په سياسي ډګردا موجوده بشپړ سکوت اورکود دجهاد نظامي ډګر له حده زيات له اغيزې لاندي راوستلی اودواړو ډګرونو ترمنځ هماهنګي چې يوله بله لازم اوملزوم ده تقريبا دله منځه تللو په حال کې ده اودې وضعې داسې فضا رامنځ ته کړې چې زموږ دهرمؤمن وګړي ذهن يې له حده زيات مشوش اواحساسات يې ويډوبل کړي دي .

بوخواته شرق اوغرب اوداسلام اوافغانستان نوردښمنان يول يول توطيې اودسيسې پکاراچوي اوپه ډيرې بې شرمۍ سره

(په ۷ مخ)

دالجزاير حکومت دمسلمانانو غورځنګ ځپل غواړي

الجزاير ، دسرطان ۲۳

دالجزاير جمهور رئيس شاذلي بن جديد په تيره مياشت کې دهغه هيواد داسلامي غورځنګ دځپلو لپاره ټانکونه وليږل درارسيدلو خبرونو سره سم دالجزاير دولت دمسلمانانو دټکولو لپاره نوې قوانين صادر کړي دي ددغو قوانينو له مخې يو ځل بيا ټانکونه په الجزيره اونورو ښارونو کې پيرې اوټګ راتګ کوي دالجزاير پوځيانو دمسلمانانو په مرکزونو بريدونه کړي او يو زيات شمير وسلې اومهمات يې ترلاسه کړي بلې خواته حکومت داسلامک سالوتيشن فرنټ مشران عباسي مدني علي بلحاج اودګوند نوردوه زره څخه زيات غړي نيولي دي حکومت په مدني اوبل باندي ابغاوت تورونه پوري کړيدي چې ددغه تور سزامرګ دی په الجزاير کې دمدني اوبلحاج له نيوني وروسته سختي مظاهرې پيل شويدي ، دځينوخبرځايونو په قول پدغو الوګولو کې تراوسه ٤۰ تنه مړه او ۳۵۰ تنه ټپيان شويدي .

دولايت بلخ ۱۸ عسکر رژيم هلاک شدند

بلخ ، ميديا :

يك منبع جهادی به ميديا خبر ميدهد که يك قطار اکمالاتی رژيم کابل که از ولايت بلخ به ولايت جوزجان درحالت حرکت بودطی کمين غافلګيرانه مجاهدين بتاريخ ۱۵ سرطان درولسوالی چاربولك به عقب رانده شد .

خبرعلاوه می کند که درجريان اين حادثه ۱۸ عسکرکشته ودوعراده تانك زرهی طعمه حريق ګرديده است .

منبع می افزايد تا روړمار شده مذکور ۱۲ ميل سلاح مختلف النوع باصد ها پايه يخچال به غنيمت مجاهدين ګرفته شده است .

ازمجاهدين نيز درين حادثه يك نفر شهيد وسه نفر زخمی ګرديده اند.

طبق يك خبر ديګر مجاهدين بروز ۱۳ سرطان بالای پوسته نمبراول نظم خاص ولايت بلخ عمليات کرده که درنتيجه ان يك عراده تانك زرهی پوش تخريب وسرنشينان ان هلاك ګرديدند.

ګزارش می افزايد دراين عمليات پنج ميل کلاشينکوف با ۲۰ صندوق مرمی ان ويك ميل پيکابه غنيمت مجاهدين درامده است .

درپروان يك صاحب منصب هلاك وپنج تن اسير شدند

پروان ، ميديا :

يك منبع جهادی به ميديا ګزارش ميدهد مجاهدين بروز ۱٦ سرطان طی کمين ګيری درولسوالی جبل السراج ولايت پروان يك صاحب منصب عالی رتبه رژيم بنام اسمعيل معاون سياسی تولی اول فرقه ٤۰ راهلاك وپنج نفر ازافراد رژيم راباسلحه دست داشته شان اسير نمودند .

فرانسه پرعراق باندی حملی ته چمتوده

دفرانسي جمهور رئيس فرانسوا ميتران ويلي دی که پرعراق باندی له حملی څخه هدف داوی چې دعراق دمظلومو خلکولپاره تحفظ پيداکړی ، اودعراق حکومت داتومی وسلی له جوړولو څخه منصرف کړای شی ، نوبيا هلته پوځی مداخله جواز لری .

نوموړی په يوه تلويزيونی مرکه کی وويل چې پدی ډول يوحمله کی دفرانسی حکومت دګډون کولو لپاره چمتو دی خوترڅو لومړی ، داتحاديی هيوادونو په منځ کی رابطه اواتفاق رای ضروری دی.

په هرات کې ددښمن قواووته درانه تلفات وراوښتي

په کويټه کی دميډيا نمايندګی دهرات له ولايت نه دقوماندان اسمعيل خان ديوی راډيويی پيغام په حواله رپوټ ورکړی چې مجاهدينو دسرطان په ۲۰ مه نيټه ددرندو وسلو څخه په استفادی سره دهرات ولايت پر ۱۷ می فرقی باندی بريد وکړ ، چې دهغی په نتيجه کی درژيم يو شمير عسکر اوصاحب منصبان مړه اوياټپيان شوی اوډهغوی ۸ عرادی ټانکونه اوپوځی لاری داورلمبه شوی دی .

دغه راز مجاهدينوپههمدی نيټه دهرات ولايت دګذرې په ولسوالی کی ديوه کمين په ترڅ کی دکابل رژيم څلور تنه مليشه وژلي اويوشمير نور يې سخت ټپيان کړی دي همدارنګه مجاهدينو په همدی نيټه ددی ولايت زنده جان ولسوالی پوری مربوط دقلعه ريګ ، قلعه نو اوقلعه عزت په سيمو کی دملحد رژيم پر قواو يو لړ بريالی عمليات ترسره کړل چې په نتيجه کی دکابل رژيم دقواو «۸» تنه عسکر اوصاحب منصبان مړه اوه تنه ټپيان اوهم دښمن ته درانده مالی تاوانونه اوړيدلی دي .

درپوټ مطابق دزنده جان ولسوالی پوری مربوط دقلعه نو په دستي سيمه کی دمجاهدينو ديوځای پرځای شوی ماين دچاوديدوله امله دکابل رژيم شپږ تنه مړه اويو شمير نور يې ټپيان شويدي.

په اووم مخ کی

دهيئت تحرير ترنظر لاندي
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
يونيورستي ټاون پيښور
تيلفون : ... ۸۱۲۲۵۱

مجاهدينو دهلمند ولايت کې درژيم دقواو يو ۷ لوړ رتبه منصبداران وژلي دي

هلمند ، ميديا :

ميديا دهلمند ولايت څخه درادیويي پيغام په حواله خبرراکړ چې ددي ولايت مجاهدينو دلويديزې خوادمارجې د محاذ څخه دلشګرګاه په مرکزي قواوباندي دسکرشل توپونو په واسطه دسرطان په ۱۲ نيټه دوه ځلي بريدونه وکړل چې په نتيجه کې درژيم دقواو سنګرونه ځپل شوی او ۷ تنه لوړ رتبه منصبداران اويو عسکر يې وژل شوی او يو شمير نور ټپيان شوی دی .

رپوټ زياتوي چې پدې بريدونو کې دکمونستي رژيم دوه زرهپوش او ۷ عرادي نظامي لاری په راکټونو داور لمبه شول .

درپوټ مطابق مجاهدينو دذکرشوی حملي يوه ورځ وروسته يو شمير نور سکر توغوندی درژيم په قواو باندي دلشکرګاه په شاوخواکی وتوغول چې پکی ددښمن يو شمير سنګرونه ويجاړدي ټانکونه دمنځه تللی اودوه فعاله موټرونه ديو مقدار نظامي مهماتو سره مجاهدينو ولجه کړيدی.

عراق دخپلو اتومي بټيو له ښکاره کولو څخه انکار وکړ

بغداد ، ۲۳ سرطان :

عراق دامريکا اوډملګرو ملتو دخوښی سره سم دخپلو اتومي بټيو له ښکاره کولو څخه انکار وکړ دخبرسره سم صدام حسين وايي چې امريکا په عراق باندي ددوهمي حملي لپاره ځان جوړوی صدام حسين زياته کړه چې موږ دامريکا اوملګرو ملتو دخوښی سره نه بلکې دخپلې خوښی اواندازې پورې داتومي بټيو ښکاره کولو لپاره تيارېږو.

هلته دمصر جمهور رئيس حسن مبارك دعراق له جمهور رئيس څخه غوښتنه کړې چې عراق دی دملګرو ملتو دمعاينې له تيم سره مرسته وکړی ترڅو عراق له دوهمي حملي څخه بچ شي .

بلې خواته صدام دبصرې څخه پخپل لومړي وينا کې په بش سخت تکونه وکړل اودده اوسني هلې ځلې يې وغندلې.

صدام وايي چې عراق به هيڅکله هم دامريکا اواتحاديانو په وړاندي سرښکته نکړي .

دده ددې وينا په مقابل کې داسرائيلو دبهرنيو چارو وزير موشي ارنز وويل که عراق خپلې اتومي بټې اووسلې ښکاره اوتباه نکړي نواسرائيل به په عراق حمله وکړي اوګردې اتومي وسلې به يې له منځه يوسي ځکه موږ داحق لرو دخليج په جګړه کې عراق په موږباندي سکډ توغندي راويشتلي و .

موشي وويل اسرائيلو چې دعراق کومه اتومي بټۍ تباه کړې وه په هغې کې تراوسه پورې کار کيږي.

که څه هم دعراق اتومي بټۍ په ټول هيواد کې خورې دي خوموږبه ترخپله وسله پورې دعراق داتومي بټيو دتباه کولو کوښښ وکړو .

امريکا دحملې څخه منع کړی

واشنګتن ، دسرطان ۲۳

دنړيوالو خبري منابعو له خولې دعراق دبهرنيو چارو وزير احمد حسين پخپل يوه ليك کې دملګرو ملتو دسرمنشي پريزديکويارڅخه غوښتنه کړې چې ملګرې ملتونه بايد عراق دامريکا دحملې څخه وژغوري ځکه عراق دملګرو ملتو ټولې پريکړې عملي کړيدی اودتحقيقاتو له تيم سره يې هرقسم مرسته اوملګرتيا کړيده ، خوامريکا داتومي بټيو تباه کولو په بهانه په عراق باندی حمله کول غواړي بلې خواته عراق دعوت ليك ديوې اضطراري غونډې درابللو غوښتنه هم کړيده ترڅوامريکا په اوسنيو نويوهلو ځلو يوپريکنده بحث وشي داخبره دې يادوې چې پدې وروستيو وختو کې دامريکا جمهور رئيس جارج بش له متحدينو سره تليفوني تماسونه نيولي ترڅو يو ځل بيا په عراق باندی دحملې لپاره تياری ونيسي .

مجاهدينو په کندهار کې درژيم يو صاحب منصب د۲۰ تنو عسکرو اومليشه و سره وژلي دي

ميډيا دکندهار له ولايت نه ديوی راډيويي پيغام په حواله رپوټ ورکړی چې مجاهدينو دسرطان په ١٤ نيټه دکندهار په مرکز دقشله جديد په سيمه کې درژيم پرپوځي قرارګاه بريد وکړ چې دهغې په نتيجه کې دملحد رژيم يو تن صاحب منصب د۲۰ تنو عسکرو اومليشه و سره مړه ، يو شمير نور ټپيان اودرې عرادې جيپ موټر يې سوزول شوي اويو دتوپچي سنګرله منځه وړل شوي دی .

همدارنګه مجاهدينو په نوموړې سيمه کې په يو بل بريد کې چې دسرطان په ۱۰ نيټه يې ترسره کړدکابل رژيم يو شمير سنګرونه ويجاړ کړي او۱۰ تنه عسکر يې دوسلو سره ژوندی نيولي دی .